# شمال او د شمال پښتانه

## ليکوال : ذبیح الله احساس

هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړي او یا يې پر لیکه کوي،
نور څوک يې پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

# احساس، مبارزه او ليکل يې

هغه وخت چې د شمال او شمال ختيځ پښتون د طالب او د شمال د جنګي زورواکي د اعمالو جزا زغمله، ځينو پښتنو له دغو سيمو کډې بارولې او يا يې د خپل هويت (ژبه/قوم) له نورو پټ ساته. بلکل همدا وختونه وو، چې په شمال کې څو تنو تنکيو ځوانانو د فرهنګي فعاليتونو تر نامه لاندې د پښتنو د حقونو د بېرته تر لاسه کولو مبارزه پيل کړه. دوی چې په ملي فکر سمبال و؛ نو خپلې هڅې يې د پښتونيزم تر سيوري لاندې نه بلکې د افغان نيشنليزم په اصولو روانې کړې، چې خپل پښتون له نورو سره سيال کړي او دغه سيالي د ګران وطن د ساتنې لامل شي.

دغو ځوانانو پرته له کوم سياسي، فرهنګي او مالي ملاتړ څخه د شمال د شته نادودو د له منځه وړلو لپاره هڅې کولې، چې د دې ډلې يو سرلاری ذبيح الله احساس و.

احساس له اره د بغلان ولايت له کيله ګي سيمې سره تړاو لري؛ خو له ۱۳۸۲المريز را په دې خوا په بلخ کې له خپلې کورنۍ سره استوګن دی او همدا سيمه يې د خپلو فرهنګي او سياسي فعاليتونو مرکز دی.

ذبيح الله احساس په شمالي ولايت بلخ کې په دې وتوانېد، چې د ځينو نورو ملګرو په ملتيا ګڼ شمېر ځوانان پر

ځان راټول کړي او د مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي. د مشرانو ملاتړ او د ځوانانو ژمنتیا نوموړي او ملګرو ته یې دا ځواک ورکړ، چې په شمال کې د بلخ ادبي خوځښت په نامه د پښتنو لپاره د سیاسي، فکري، فرهنګي او علمي مرکز چتر برابر کړ.

دوی د نورو ادبي، سیاسي او فرهنګي چارو تر څنګ، پرخه او پسرلی مجلې پیل کړې او پرته له کوم ځنډ یې په پرلپسې ډول چاپ کړې.

نوموړي د همدغه مجلو او ادبي خوځښت له لارې هڅه کوله او کوي یې، چې د شمال پښتون افغان نېشنلزم ته راوبلي. د نورو قومونو تر څنګ ورته د یو سیال په توګه د تګ لارې چارې په ګوته کړي.

احساس په تدبیر تر خپلې وسې د ټولو هغه کارونو د مخنیوي هڅه کوي، چې خدای مه کړه د دې قوم د شاته پاتې والي او یا له نورو قومونو سره د ټکر لامل کېږي.

په دې مبارزه کې زه د احساس د ډېرو فعالیتونو او هڅو شاهد یم. زه په پرخه او پسرلي مجله کې د هغه د سخت کار له امله د ډېرو داسې شپو شاهد یم، چې هغه د ځینو نورو ملګرو سره د دغه مجلو د مقالو د لیکلو، ټایپ او ډیزاین له امله رنې

کړي دي. دا مقالې چې نن يې تاسې په دې کتاب کې لولئ، د همدغو رنځو شپو محصول دی.

زه دا نه وايم، چې د احساس مبارزه او يا د دې کتاب ليکنې به د ليکنۍ اړخه او يا هم د سياسي فکر له امله بشپړې وي، په هغې قضاوت ستاسې خپل کار دی؛ خو دومره وايم، چې د احساس دغه ليکنې چې ډېری يې ما په خپرونو کې د چاپ پر وخت لوستلي د وخت د حالاتو او اړتيا په پام کې نيولو سره ليکل شوي دي. د دې خبرې يو ښه ثبوت همدا دی، چې مقالې په کومې ځانګړې موضوع نه دي ليکل شوي. د کتاب ډېری ليکنې د ليکلو د نېټې له مخې د هماغه وخت له حالاتو سره تړاو لري، چې ممکن ډېر داسې مسايل پکې رانغښتل شوي وي، چې هغه مهال يې د پېښېدو هڅې کېدې.

همدارنګه احساس د دې مقالو لپاره د مقالې متن ته په کتو ډېر په زړه پورې عنوانونه ټاکلي، چې شخصا ماته خوند راکوي.

بله خبره د ښاغلي احساس په مبارزه کې د نيمګړتياوو ده. دا حتمي ده، چې څوک منډې وهي، همغه به راغورځي؛ خو که کرار ناست وي کله به هم د دې خطر سره مخ نه شي. احساس منډې وهي، پر مخ روان دی او دغه ټول خطرونه پر ځان مني، چې د دې خبرې ښه ثبوت هم د همدې کتاب مقالې دي.

هماغه وخت چې ځينو خلکو په شمال او شمال ختيځ کې خپل هويت پټ ساته، احساس او څو تنه نورو ځوانانو د همدغه هويت د څرګندولو لپاره مبارزه کوله.

زه له احساس څخه مننه کوم، چې خپلې دغه خورې ورې ليکنې يې د کتاب په شکل راټولې کړې او تر ما او تاسې يې راورسولې، ګوندې په دې برو برخو کې ترې د هغه وخت د حالاتو د وضعيت په تحليل کې ګټه واخيستل شي.

د ذبيح الله احساس د نورو ليکنو په تمه
عزت الله پامير
د چنګاښ ۲۵مه، ۱۳۹۵المريز
کابل

## د لیکوال خبرې:

د دې کتاب لیکنې په تېرو څو کلونو کې له شماله په خپرېدونکو مجلو پسرلی او پرخه کې خپرې شوې، چې اوس د ((شمال او د شمال پښتانه)) په نامه په کتابي بڼه ستاسو په لاس کې دی.

دغه لیکنې د شمال زون په هراړخیز حالت او په دغه زون کې د پښتنو په سیاسي مجبوریتونو او فرهنګي نیمګړتیاوو باندې زما شوې تحلیلونه دي.

په یاد کتاب کې له ۱۳۸۷المریز څخه تر ۱۳۹۴المریز پورې د بېلا بېلو حالتونو په تړاو لیکل شوې مقالې ځای پر ځای شوې دي. د دغو لیکنو ارزښت راته له دې زاویې هم ډېر دی، چې زما سیاسي شعور ورسره قدم په قدم ویښ شوی او زه یې د خپلو مفکورو په چوکاټ کې په نامرییي توګه روزلی یم.

د یو افغان په توګه مې له تېرو څو کلونو درک کړې، چې په شمال کې د پښتون پرمختګ او سیاسي ویښتابه، افغانستان ته د خیر رسولو د لړۍ یو ستره کړۍ ده.

هو که چېرې دغه ویښتابه د پښتونیزم تر سیوري لاندې وي؛ نو بیا د وطن په زیان ده؛ خو که چېرې یې د افغان نیشنیلزم په

چوکاټ کې ځای پر ځای کوو؛ نو بویه چې نور مو ملامت نه کړي.

له تېرو څوارلسو کلونو مې د شمالیوال پښتون په توګه درک کړې، چې موږ د سیاسي مشرتابه د تشې په تناره کې سوزو. دلته نور قومونه له دغې تشې سره مخ نه دي او له همدې امله یې له تېرو څوارلسو کلونو په پرله پسې توګه په هراړخیزه توګه پرمختګ کړی دی.

که چېرې د هېواد په هره څنډه کې ټول قومونه د سیاسي عدالت له مخې یو شان اسانتیاوې ولري او تر سیوري لاندې یې پرمختګ وکړي؛ نو له امله یې د افغانستان د شته ډېرو ستونزو د حل لارې موندلی شوو.

د شمال پښتون تل په شمال کې د نورو اړخونو د سیاسي پېچ و خم په لوړ ژورو کې ستړی شوی دی. په همدې ستړیا کې ترې هرې ډلې د خپلې سیاسي مبارزې لپاره کار اخیستی؛ خو د ولس په توګه امتیاز نه دی ورکړل شوی.

همدا لاملونه دي، چې له معارف سره لا هم نااشنا دي او ځای ځای له مجبوریته د وسلوالو مخالفینو پر بستر هم بدل شوي دي.

که چېرې د شمال پښتانه هم د نورو قومونو په څېر د ځانګړې سیاسي دایرې لرونکي شي او له نورو قومونو سره د سیال

سیاست په درشل ودرېږي؛ نو کټه به یې هم ځان ته وي، هم نورو ته او هم ټول افغانستان ته.

د دغه کتاب مقالې د همداسې حالاتو د مجبوریتونو او نېمګړتیاوو د سپړلو په فکر په بېلا بېلو وختونو کې لیکل شوي دي.

دغه لیکنې د لیکلو د نېټې له مخې په شمال کې زما او زما د ملګرو د رواني مبارزې، لوړې ژورې په پرله پسې ډول په غیرمستقیمه توګه بیانوي.

زه؛ د دغو لیکنو د لیکوال او په شمال کې د بلخ ادبي خوځښت په نامه زموږ د رواني مبارزې د یو ملګري په توګه وایم، چې موږ اړوو، چې د ځینو پېښو په اړه معلومات پټ او خوندي وساتو، د ځینو په اړه لیکل وکړو، د ځینو پر وړاندې غبرګون وښایوو او د ځینو په اړه یوازې فکر وکړو او کله کله چپ پاتې شوو.

دغه لیکنې د نېټې له مخې په پرله پسې توګه په کتاب کې ځای پر ځای شوي، چې د لیکلو کال هم ورسره مل دی؛ بویه چې له لوستونکو سره د هماغه زمان د سیاسي حالت په درک کې مرسته وکړي.

د کتاب ځینې لیکنې د لیکوالۍ او سیاسي تحلیل په تړاو خامې دي؛ خو په ټوله کې قدم په قدم د پخېدو په لوري درومي، بویه چې لوستونکي راته حوصله وکړي.

د کتاب د ځینو لیکنو د پیدا کېدو او دوباره لیکلو په برخه کې د بلخ ادبي خوځښت له ملګرو سید عالم سېلاب او جعفر فیصل څخه مننه کوم.

د داود تپان ملګري زوی دې لوی شي، چې له پکتیا یې بلخ ته غږ راوکړ. د دغه کتاب د چاپ په برخه کې یې زیار وویست او تر تاسو یې ورسوه.

ملګري لمر نیازي ته خورا درنښت، چې د کتاب پښتۍ یې ښکلې جوړه کړه. اکبرباچا دې راته ژوندی وي. د کتاب پر پوښ زما راغلی تصویر همده اخیستی دی.

له ټولو مننه او مینه

درناوی
ستاسو احساس
بلخ ادبي خوځښت
مزارشریف
د ۱۳۹۵ المریز د چنګاښ ۲۳مه

# بغلان؛ اته کلونه او لس والیان

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۱۸مه، ګڼه/ ۱۳۸۸المریز

بغلان د تېرو اتو کلونو په اوږدو کې یواځینی ولایت دی، چې د مرکزي دولت لخوا پکې لس والیان بدل شوي دي. ممکن له ولسمشر کرزي او یا هم د مرکزي دولت د نورو اړوندو لوړپوړو چارواکو سره په دغه ولایت کې د والیانو د زر تر زره بدلولو دلیلونه وي؛ خو ښکاره دلیل به یې دا وي، چې د دغه ولایت شته ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او یا یې لږ تر لږه کمې کړي.

خو دغه ستونزې د والیانو د بدلون له امله نه دا چې کمې شوې؛ بلکې لا پسې ورځ په ورځ ډېرېږي.

هر والي له ځانه سره نوې ستونزې راوړي او د همدې ستونزو په له منځه وړلو کې پاتې راځي. د دغه پاتې راتګ یو لا مل دا هم دی، چې هېڅ والي پکې له یو کال څخه ډېره دنده نه ده ترسره کړې.

د مګړی په دغه ولایت کې ښاغلی منشي مجید د والي په توګه په دنده ګمارل شوی دی. مونږ اړینه وبلله، چې د ده په لومړیو شپو ورځو کې د بغلان د شته ستونزو په اړه هر اړخیزه شننه ولرو، چې وګورو د حل کولو په موخه یې ښاغلی مجید څومره ګټول ګامونه اخلي.

**سریزه:**

بغلان د افغانستان د شمال د دروازې حیثیت لري. دغه ولایت د سالنګ تونل له لارې شمال له هوارو هیواد سره نښلوي. سر بېره پر دې بغلان د کندز، سمنګان، بامیان او پنجشېر ولایتونو سره ګډې پولې لري. بغلان په شمالي ولایتونو کې بلخ پسې دویم ولایت دی، چې زیات شمېر فابریکې پکې دي. د قندو فابریکه، د نساجۍ فابریکه، د سمنټو فابریکه، د پنیرو فابریکه.

دغه ولایت په خپل تشکیل کې څوارلس ولسوالۍ لري. مرکزي بغلان، دوشي، خنجان، اندراب، نهرین، تاله وبرفک، دېصلاح، خوست، پل ایثار، فیرنګ، دهنه غوري، ګذرګاه نور او بورکه. پلخمري د دغه ولایت مرکزي ښار دی، چې د ولایت مقام هم په همدې ښار کې دی.

د بغلان ولایت د خلکو ورځنۍ بوختیاوې کرنه ده. دلته شولې، غنم، ختېکي او هندوانې په ډېره پیمانه خو سربېره پر دې مې او جوار هم ځای ځای کرل کېږي. له جنګونو مخکې وختو کې بغلان د لبلبو د کرلو ستر ولایت و؛ خو په دغه ولایت کې د قندو فابریکې د بندېدو سره سم د لبلبو کښت کروندګرو پرېښود.

په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې د سپین زر شرکت د بندېدو سره دغه ولایت کې د پنبې کښت هم کروندګرو پرېښې، چې یو وخت په ډېره پیمانه کرل کېده.

په دغه شننه کې د بغلان ولایت د حکومتدارۍ، سیاست، بیارغونې او امنیت په اړه شته ستونزو باندې رڼا اچوو.

## حکومتداري:

په بغلان ولایت کې هم حکومتداري د افغانستان د نورو ولایتونو په څېر د اداري فساد ښکار ده. د دغه ولایت خلک د حکومتدارۍ په برخه کې د دولت څخه خوښ نه دي. دلته د یو قانوني کار ترسره کېدو لپاره عام ولس پر غېر قانوني لارو باندې تګ ته مجبورېږي. له وړو مسایلو څخه تر لویې کچې ټولنیزو او دولتي ستونزو د حل په خاطر د دولت د حکومتدارۍ روان سیستم خلک دومره بې وسه کړي، چې د اداري فساد ښکار شي.

په دغه ولایت کې هم د شمال د نورو ولایتونو په څېر د دولت او خلکو تر منځ ډېرې روانې لانجې د دولتي او غیر دولتي ځمکو د غصب مسله ده. د ځمکو د غصب داسې ډېرې دوسیې اوس هم د بغلان ولایت په محکمو کې ښکته پورته کېږي، چې کلونه کلونه پرې اوښتي؛ خو لا هم نه دي حل شوي.

په بغلان ولایت کې روانې حکومتدارۍ عام خلک مجبور کړي، چې د یوې پېښې د څېړلو پر وخت دوا ړه لوري ملامت او سلامت چارواکو ته د خپلې دوسیې د چارو د پرمخ بیولو له امله رشوت ورکړي. دغه ډول رشوت اخیستل د دغه ولایت د نورو ادارو سربېره د ولسوالیو په امنیه قوندانیو ، د پولیسو په حوزو او محکمو کې ډېر لیدل کېږي.

که یو کس غواړي، چې د ولایت په لوړو او یا وړو امنیتي او یا هم په ملکي پوستونو کې دنده تر لاسه کړي؛ نو مجبور دی، چې د وړتیا تر څنګ دولتي اړیکې او پیسې هم ولري. د پوست د ترلاسه کولو پر مهال باید د یاد وړ پیسې په رشوتونو ورکړي؛ تر څو د نظر لاندې دنده تر لاسه کړي. په بغلان ولایت کې دغه ډول امنیتي او ملکي مامورین په لسګونو دي، چې د خپلې دندې د تر لاسه کولو پر مهال خپلې لګولې پیسې بېرته په غیر قانوني لارو تر لاسه کوي ، په داسې حال کې دولتي مامور یوائې د خلکو جیبونو ته ګوري، چې خپلې لګول شوې پیسې په هر چل ول چې وکړای شي ترې وباسي.

د دې سربېره د بیا رغونې په هغو پروژو کې په ډېره کچه اداري فساد کېږي، چې ځیني دولتي پروژې د غیر دولتي شرکتونو لخوا پر مخ وړل کېږي.

که کومه دولتي ودانۍ جوړېږي؛ نو په ښکاره خو هغه داوطلبۍ ته اچول کېږي؛ خو ګټونکی به یې هغه شرکت وي، چې د اړوندې ودانۍ چاروا کو ته یې مخکې له مخکې له ټولو زیات رشوت ورکړی وي. دا او دې ته ورته نورې چارې په داسې حکومتدارۍ ترسره کېږي، چې خلک ترې زړه تورن دي. د دغه ولایت اوسېدونکي په ټوله مانا د رواني حکومتدارۍ څخه ناخوښ دي.

اته کلونه او لس والیان:

په تېرو اتو کلونو کې په بغلان ولایت کې لس والیان بدل شوي دي. په دغه ولایت کې د کرزي د راتګ سره سم دغو والیانو دنده ترسره کړې

ده. ضیاالحق حقیار، انجنیر محمد عمر، فقیر محمد مموزی، محمد عالم راسخ، جمعه خان همدرد، سید اکرام الدین، محمد عالم اسحاقزی، عبدالجبار حقبین، حاجي اکبر بارکزی او اوسنی (۱۳۸۸المریز) والي منشي مجید چې له دې مخکې په بدخشان کې والي و.

د والیانو د دغه ادلون بدلون له امله بغلانیان په دې اند دي، چې په تېرو اتو کلونو کې مرکزي حکومت په دې نه دی توانېدلی، چې تر یو ځایه سمه حکومتداري پلې کړي.

د دغه ولایت په سیاسي چارو کې د پښتنو او تاجکانو تر منځ وخت نا وخت ناندرۍ وي او د والیانو د بدلون یو لامل هم همدا ناندریزې ستونزې دي. د مرکزي بغلان نږدې ټول اوسېدونکي پښتانه دي؛ خو په پلخمري کې بیا د پښتنو تر څنګ ۳۰سلنه تاجکان او د همدوی په ډله کې یو څه نور قومونه هم ژوند کوي.

د تاجکانو په ډله کې د اندراب ولسوالۍ او پنجشېر ولایت اوسېدونکي د ولسوالۍ په ښار کې ډېر مېشت دي. دواړه ډلې په مرکزي دولت کې د خپل فکر لوړ پوړو چارواکو سره سیاسي اړیکې لري، چې له امله یې په دغه ولایت کې ستونزې راپیدا شوي دي.

یوه له ټولو ستره ستونزه د دواړو ډلو تر منځ د ولایت د مقام په موقعیت باندې ده. د دغه ولایت مرکز د ډاکټر نجیب الله د حکومت پر مهال له مرکزي بغلان څخه پلخمري ولسوالۍ ته لېږدول شوی و، چې

له هماغه وخته تر دې دمه د مرکزي بغلان د اوسېدونکو او د پلخمري د دري ژبو تر منځ د ولايت په لېږدولو ناندرۍ رواني دي.

ويل کېږي، چې د جمعه خان همدرد د ګوښه کېدو يو ستر لامل هم له پلخمري څخه مرکزي بغلان ته د ولايت مقام د لېږدولو هڅه وه، چې پکې پاتې راغی.

د مرکزي حکومت د کمزورۍ له امله په پورته يادو شويو واليانو کې يو پښتون او بل تاجک والي په دغه ولايت کې په دنده ګمارل شوی دی.

د مرکزي بغلان اوسېدونکي وايي، چې دغه سيمه د خپل پراخ جغرافيايي جوړښت له امله دېته جوړه ده، چې د ولايت مقام پکې اباد شي. دوی وايي، چې د پلخمري ښار يوه تنګه دره ده او د ولايت د مقام ځای پکې نشته.

خو د پلخمري دري ژبي بيا وايي، دا چې دمګړۍ ولايت په پلخمري ښار کې دی؛ نو همدلته دې وي. دوی په دې اند دي، چې د ولايت لېږدونه به ډېرې ستونزې له ځانه سره ولري. يعني تېره پر خپل ځای ښه ده؛ خو د مرکزي بغلان اوسېدونکي د دغې تېرې اصلي ځای خپله سيمه ګڼي.

مرکزي حکومت له اتو کلونو را په دېخوا د بغلان ولايت د يادې شوې ستونزې په حل کې پاتې راغلی دی.

## سیاست:

په بغلان ولایت کې د افغانستان د نورو مرکزي ولایتونو په څېر سیاسي چارې تودې نه دي. که څه هم په دغه ولایت کې د جنګونو پر مهال سیاسي ګوندونه ښه په زور کې و ؛ خو د دموکراسۍ د وروستۍ لسیزې په اوږدو کې سیاسي ګوندونه د نشت برابر دي؛ خو د دغه ولایت په ځینو ولسوالیو کې د حزب اسلامي ګوند خوښونکي د نورو ګوندونو په پرتله زیات دي. دلته اوس هم د خلکو په منځ کې د جهاد د وختونو ګوندونه مشهور دي او خلک هماغه ډلې د هېواد د سیاسي ګوندونو په توګه پېژني. د نورو په پرتله په دغه ولایت کې حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ګوندونه پیاوړې دي. د دموکراسۍ د لسیزې سره نوي پیدا شوي ګوندونه لا د خلکو په منځ کې هغه شهرت ته نه دي رسېدلي، چې د یو سیاسي ګوند په توګه دې په دغه ولایت کې وپېژندل شي.

د سیاسي چارو د کمرنګۍ یو ستر لامل د دغه ولایت د خلکو د سواد ټیټه کچه ده. ډېری خلک په کرونده اخته وي او د تېرو لسو کلونو را په دېخوا پکې د پوهې ډېوې یو څه بلې شوي دي؛ خو روانو ناامنیو هغه هم کمرنګه کړې دي.

## بیا رغونه:

په بغلان ولایت کې د بیا رغونې چارې د شمال او د ټول هیواد د ځینو ولایتونو په پرتله ټکنۍ دي. د بیا رغونې ښه بېلګه د دې ولایت د سینې څخه د ټول شمال تېرېدونکې لویه لار ده، چې قیر شوې ده. نور

نو په ټول ولایت کې تر ډېره ځایه د ولسوالیو د لویو لارو څخه واخله تر وړو سړکونو پورې د دوړو او خاورو ښکار دي.
په دغه ولایت کې د قندو فابریکه د هیواد په کچه د بورې یوازینۍ تولیدونکې فابریکه وه، چې د جنګونو پر وخت د زیانمنېدو څخه وروسته یې یو دوه ځله د بیا رغونې سطحې هڅې وشوې؛ خو ونه رغول شوه. د دغې فابریکې درېدو د دغه ولایت په کرنه خورا منفي تاثیر وکړ، چې له امله یې د لبلبو کښت په ټوله مانا بند شو.

د نورو ولایتونو په څېر پکې د کلیو او پراختیا وزارت د ملي پیوستون د ترسره شویو پروژو څخه خلکو یو څه ګټه اخیستې ده. د همدې پروژو له لارې تر یو ځایه د څښاک د اوبو د کمښت او وړو لارو او پولګوټو ستونزې حل شوي دي.

خو لا هم په دغه ولایت کې د کرنیزو اوبو د مهار لپاره د سربندو نشتوالي کروندګر له بېلابېلو ستونزو سره مخ کړي. د دغه ولایت په منځ کې د بغلان سیند بهېږي، چې له همدې سینده د ولایت ځمکې خړوبېږي. دغه سیند د ځمکو د خړوبولو تر څنګ دوه ځایه د برېښنا اسانتیاوې هم برابرې کړې دي. د سیند څخه د تولیدېدونکې برېښنا له امله د پلخمرې ښار څلرېشت ساعته روښانه وي؛ خو شاوخوا کلي او پرتې ولسوالۍ یې په ټوله مانا د برېښنا له نعمت څخه بې برخې دي. د دغې ګټې سربېره دغه سیند هر کال د اوبو د زیاتوالي پر وخت ځای ځای کرنیزې ځمکې په خپل بستر بدلوي او له منځه یې وړي.

د تالا او برفک او خنجان ولسوالۍ د وړو سیندونو اوبه په دوشي ولسوالۍ کې سره یو ځای کېږي او د بغلان سیند ترې جوړېږي. دغه سیند د دوشي، پلخمري، دهنه غوري، ډنډ او مرکزي بغلان ولسوالیو له منځه تېرېږي او د همدې سیمو د ځمکو د خړوبولو تر څنګ هر کال د خپلو اوبو د زیاتېدو پر وخت زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه له منځه وړي؛ خو دولت د دغې ستونزې په هکله تر دې دمه اړین ګامونه نه دي اخیستي.

په بغلان کې هم د نورو ولایتونو په څېر نږدې ټولې تلیفوني شبکې کار نه کوي.

د ځینو بانکونو د څانګو پر پرانیستلو خلکو ته بانکي اسانتیاوې هم برابرې شوي دي.

## امنیت:

په شمال کې مېشت بهرني او کورني امنیتي ځواکونه او عام ولس په دې هکله سره همغږي دي، چې دغه ولایت په شمال کې له ټولو زیات ناامنه دی. تر ډېره هغه سیمې د امنیت څخه محرومې دي او د دولت مخالفین پکې ځای پر ځای شوي، چې د پلخمري او کندز ولایت پر لویه لار پرتې دي. پر دغه لویه لار د پلخمري او مرکزي بغلان ډېرې سیمې د ناامنه سیمو په توګه پېژندل شوي. په دغه ولایت کې د وسلوالو طالبانو تر څنګ د حزب اسلامي وسله واله ډله هم د دولت پر خلاف د سیمي د ناامنۍ په موخه لاسونه اچوي.

په دغه ولايت کې د عامو خلکو له ټولو ستره ستونزه د دولت د مخالفينو شتون دی. که څه هم په دې وروستيو کې د مرکزي بغلان په قيصر خېلو او کوک چنار کليو کې د حزب اسلامي د وسله والې ډلې او د طالبانو تر منځ د نښتې له امله د حزبيانو ټغر ورټول شوی غوندې دی؛ خو د سيمې خلک اوس هم د وسله والو طالبانو لخوا په امن کې شپې او ورځې نشي تېرولی.

ويل کېږي، چې په بغلان کې د حزب اسلامي وسله والې ډلې او د وسله والو طالبانو تر منځ د عشر ټولولو پر سر مخالفت رامنځته شوی و. د سيمې د اوسېدونکو له نظره د مرکزي بغلان په قيصرخېلو کلي کې د طالبانو تر څنګ حزبيانو هم غوښتل، چې له کروندګرو څخه عشر ټول کړي. د همدې پېښې په تړاو د طالبانو لخوا د حزب اسلامي يو وسله وال ګروپ بې وسلې کړای شوی و، چې له امله يې نښته وشوه. په دغه نښته کې، چې يوه شپه و ورځ روانه وه، له دواړو خواو څخه په لسګونو کسان ووژل شول. په وژل شويو کې ډېره برخه حزبيان او يو شمېر طالبان وو. د نښتې پر مهال د سيمې امنيتي ځواکونو د دواړو خواوو د تېښتې لارې بندې کړې وې، چې له امله يې دوه سوه حزبيان او يو شمېر طالبان دولت ته تسليم شول. له دې وروسته د امنيتي ځواکونو لخوا د طالبانو د له منځه وړلو په موخه په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې د توحيد په نوم چانيز عمليات پيل شول. سربېره پر دې چې امنيتي ځواکونو ترسره شوي عمليات بريالي وبلل؛ خو په سيمه کې د وسله والو طالبانو شتون څرګندوي، چې له پايته رسېدو وروسته يې دومره ګټه نه ده کړې.

قیصرخېل کلي په څېر سیمو کې تر ډېره د دولت اړخ نه چلېږي او ډېری سیمې د طالبانو تر ولکې لاندې دي. د دغو سیمو ځینې خلک دولتي او ټولنیزې ستونزې د طالبانو د قانون په سیوري کې حلوي. که د دوه کسانو تر منځ په یوه موضوع څه جنجال را پیدا شي؛ نو د دولت پر ځای وسله والو طالبانو ته مخ اړوي. د شته ناامنیو له امله په یادو سیمو کې د نجونو ښونځي تړل شوي او هلکان په ډار ډار هر سهار د ښوونځي پر لور روان وي؛ خو د هلکانو ښونځي هم د شته نا امنیو له کبله د تړل شویو ښونځیو په څېر دي. په هغو سیمو کې، چې ښونځیو ته د ودانیو او نورو اړینو موادو په برخه کې یو څه اسانتیاوې برابرې دي، هلته د امن ډاډ نشته او په کومو سیمو کې، چې نسبي امن شتون لري، هلته بیا ښوونځي ودانۍ او نور اړین مواد نلري، چې زده کونکو ته پکې د لوست زمینه برابره شي.

## د امنیتي پوستونو نا انډولیزه وېش:

په بغلان ولایت کې د نا امنۍ لاملونو څخه یو ستر لامل د امنیتي پوستونو نا انډولیزه وېش دی. په دغو پوستونو کې ډېره کچه دري ژبو ته ورکړل شوې ده.

د بغلان ولایت په ښوارلس اداري واحدونو کې د قومندانۍ په کچه درې پوستونه د مدیریت په کچه یو او د حوزو د آمریتونو په کچه هم یو پوست پښتنو ته ورکړل شوی دی. که په دغه ولایت کې د پښتنو د نفوس په نظر کې نیولو سره د امنیتي پوستونو وېش ته وګورو؛ نو

شل سلنه برخه پکې پښتنو ته ورکړل شوې او په پاتې اتیا سلنه کې په ډېره کچه دري ژبي دي.

پورته یاد شوی وېش په ډېری سیمو کې د ناامنۍ لامل ګرځېدلی دی. ډېری وخت چې په سیمه کې د یوې پېښې له امله شخړه پورته کېږي؛ نو که یو لوري ته پښتانه وي او بل لوري ته دري ژبي؛ نو د اړوندې سیمې امنیتي پولیس د دري ژبو پلوی کوي او په دې توګه په سیمه کې پولیس د شخړو د هواري نه بلکې د لا اوږدېدو لامل ګرځي.

د پژواک خبري اژانس د خپاره شوي راپور پر بنسټ د پلخمري ولسوالۍ په زمانخېل سیمه کې د اندرابیانو او زمانخېلو تر منځ د ځمکې پر سر راپورته شوې لانجه کې پولیسو هم لاس درلود. که څه هم په دغه پېښه کې د بغلان والي د پولیس لاس لرل رد کړي دي؛ خو په سیمه کې د عیني شاهدانو د وینا له مخې د پولیسو رنجر موټر تر سترګو شوی، چې پکې سپرو پولیسو د اندرابیانو پلوي کړې او د دواړو لوریو تر منځ په شوې نښته کې سپکې او درنې وسلې هم کارول شوي دي.

په دغه پېښه کې پنځه کسان ټپیان شوي هم وو.

د پولیس تعریف داسې کېږي، چې دوی د ټولنې خدمتګار دي؛ نو همدا ده چې له ولس سره نېغې اړیکې باید ولري. امنیتي چارې باید د سیمې د اوسېدونکو د انډول په نظر کې نیولو سره ووېشل شي. له دې لارې به تر ډېره د هغو نفرتونو مخه ونیول شي، چې د قومي او ژبني لرې والي له امله رامنځته کېږي. که چېرې په دغه ولایت کې د امنیت

راوستو په موخه د امنيتي پوستونو ناانډوليزه ستونزه هواره نه شي؛ نو لرې نه ده، چې د دغه ولايت امنيتي ستونزې د کمښت پر ځای لا پسې اوږدې شي.

## وړاندیز:

د بغلان نوي والي ښاغلي منشي مجيد ته د يو عادي ولايت د چارو د سمبالښت دنده نه ده سپارل شوې. د ښاغلي د واليتوب دغه دوره په بدخشان کې د هغه د واليتوب له دورې سره خورا توپير لري. نوموړی بايد په ټوله مانا د عام ولس د ستونزو په حل کې شپې رڼې کړي. دی بايد هڅه وکړي، چې له عامو خلکو سره نېږدې اړيکې پيدا کړي، چې د شته ستونزو د حل په موخه ترې مشورې واخلي، چې وکړای شي د خلکو اعتبار تر لاسه کړي او په بغلان کې د نسبي امن په راوستو تر يو ځايه برياله شي.

# په مورنۍ ژبه زده کړې او د افغانستان شمال

په مورنۍ ژبه د زده کړو نشتوالی د پوهې تر لاسه کولو بنسټیزه ستونزه

خپره شوې: پرخه مجله/ پرله پسې ۲۳مه، ګڼه/ ۱۳۸۹المریز

د هېواد په شمال کې د وروستیو حکومتونو تګلارو د دغه زون د زده کړو پر بهیر ځینې ناوړه اغېزې کړې دي.

دغه لوری په سیاسي لحاظ که هر ډول مخ ته روان وي؛ خو د زده کړو د بهیر اړخ یې باید د شمال هر اوسېدونکي ته د هغه د انساني حق په نظر کې نیولو سره د زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي، چې دا سې نه دي شوي.

د هېواد په شمال زون کې د دې وطن د ډېرو ژبو ویوونکي ژوند کوي. دلته پښتانه، ازبک، تاجک او... ټول د ورونو قومونو په څېر په یو کلي، یوه بانډه او د ښار په یو واټ کې له یو بل سره ګډ اوسېږي؛ خو ټولو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتیا برابره شوې نه ده، چې یو یې کې پښتون دی.

د هیواد اساسي قانون ۴۳مه، ماده په مورنۍ ژبه د زده کړو په اړه حکم کوي: ((دولت مکلف دی، چې د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي، لاره هواره کړي)).

همدا راز په بیلابیلو نړیوالو قوانینو کې هم په مورنۍ ژبه زده کړې د ماشوم بنسټیز حق ګڼل شوی او دولتونه مکلف ګڼل شوي، چې هر ماشوم ته دغه اسانتیاوې برابرې کړي.

د اساسي قانون له مخې په هیواد کې لا هم زده کونکي په مورنۍ ژبه د زده کړو د اسانتیاو د نشتوالي له امله له ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

دوه کاله مخکې په هېواد کې په مورنۍ ژبه د زده کړو د اسانتیاوو برابرولو په موخه د کلتوري ټولنو د بار بار غوښتنې له امله پوهنې وزارت ځینې وعدې وکړې، چې د هېواد له پلازمېنې کابل څخه به پیل کوي او ورو ورو به نورو هغو ولایتونو ته، چې اوسېدونکي یې په مورنۍ ژبه زده کړو ته اړتیا لري، اسانتیاوې برابرې کړي؛ خو مونږ وینو چې په دغو کلونو کې یواځې د کابل ستونزه هم نه ده حل شوې.

تر ډېره کچه په مورنۍ ژبه د زده کړو د نشتوالي زیان د هېواد شمال مېشته افغانانو ته رسېږي، چې لا هم پکې ټولو بېلابېلو قومونو ته په مورنۍ ژبه د لوست اسانتیاوې برابرې نه دي.

په شمال کې داسې سیمې هم شته، چې یوازې یو قوم، پښتون یا هزاره، ازبک او یا ترکمن ژوند کوي؛ خو ماشومانو ته یې په مورنۍ ژبه نه بلکې په دري ژبه زده کړې ورکول کېږي.

د بلخ ولایت د ځینو ولسوالیو یادونه کوو، چې یواځې یو قوم پکې مېشت دی. د دغه ولایت په کلدار او شورتېپه ولسوالیو کې یواځې

ترکمن اوسېږي. په بلخ، چمتال او چهاربولک ولسواليو کې تر ډېره پښتانه ژوند کوي؛ خو د دغو ولسواليو ښوونځيو کې زده کوونکو ته په مورنۍ ژبه نه بلکې په دري ژبه لوست کېږي.

همدا راز له بدخشانه تر فاریابه د شمال په ټولو نهو ولایتونو کې داسې ډېرې سیمې او ولسوالۍ شته، چې اوسېدونکي يې په مورنۍ ژبه د زده کړو د نشتوالي له ستونزو سره مخ دي.

د اروا پوهنې په بېلابېلو کتابونو کې راغلي، هغه ماشوم چې په مورنۍ ژبه زده کړې نه کوي، د هغه ماشوم په پرتله چې کوي يې، ۳۰ سلنه تنبل وي.

خو د سیمې اوسېدونکي مجبور دي، چې د زده کړو تر لاسه کولو په موخه خپل اولادونه بیا هم ښوونځي ته ولېږي.

په داسې حال کې چې په تېرو څو کلونو کې پوهنې وزارت د یاد ورځ لاسته راوړنې لري؛ خو په مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې په ټوله مانا پاتې راغلي دي.

دغه وزارت ته پکار ده، چې په هیواد کې د پوهنې د اساسي بیا رغونې په موخه د ښوونځیو ودانۍ او نورو اسانتیاوو برابرولو تر څنګ په مورنۍ ژبه د زده کړو د اسانتیاوو په برخه کې هم جدي ګامونه واخلي.

# د تخار هېر شوي پښتانه

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۲۰مه ګڼه/ ۱۳۸۹المریز

سل کورنۍ د تخار خواجه بهاوالدین ولسوالۍ ته د شپې ورسېدې او له هغه ځایه د خپلې سیمه- لاله ګذر په لوري رواني وې، چې پر لاره یې پولیسو مخه ونیوه. په دې پلمه، چې د شپې تګ له ګواښه ډک وي، دغو کورنیو ته د وړاندې تګ اجازه ورنکړای شوه.

کله چې له تېل شوې کربښې اخوا په ژوب کې د تخار نږدې ۱۰۰۰پښتنو کورنیو د رسنیو له لارې، د ښاغلي کرزي، غتې خبرې او د بهرنیو هېوادونو د مرستو، امنیت او خوندیتوب ستري ژمنې واورېدې؛ نو لومړی کاروان، چې شمېر یې څه باندې ۱۰۰ کورنۍ وو، خپل پلرني ټاټوبي ته راستانه شول.

د دغه کاروان یو موټر پر لاره چپه شوی و، چې ۱۳ تنه په کې ټپیان شوي هم وو.

خپل ولایت-تخار ته د شپې یوولس بجې له رسېدو سره سم هغه څه سره مخ شول چې دوی یې فکر هم نه کوه. د دې پر ځای چې خلک یې د ستړي مشي لپاره مخې ته راشي، خنډونه یې ورته جوړ کړل. جنګسالارانو د سیمه ایزو امنیتي مسوولینو په مرسته د پخواني قومندان احمد شاه مسعود په یو جریب ځمکه کې د طالب بندیانو لپاره جوړ شوي زندان ته، وروستل.

دوه کاله مخکې د تخار خواجه بهاوالدين ولسوالۍ ته راستانه شوي، پښتانه لا هم د خپلو مېنو او ځمکو د ترلاسه کولو په نيت د ځايي چاروا کو د نن سبا وعدو په تمه شپې او ورځې تېروي.

راستانه شوي پښتانه، چې د هېواد بيا جوړېدو هيله مند کړي و. دوی انګېرلې وه، چې پر وطن يې د امن او ثبات تغر خورېدونکی دی؛ نو د خپل هېواد په لور رهي شول؛ خو د رسېدو سره سم د احمد شاه مسعود په پاتې شوني زندان کې واچول شول، چې تر ننه پورې پکې د خپلو مېنو د بيا ترلاسه کولو په موخه د مرکزي دولت د کړيو فيصلو د عملي کېدو په تمه دي.

سلګونه کورنۍ کلونه وړاندې د يادې ولسوالۍ په لالا ګذر سيمه کې په دربيو کليو کې ابادې وې. زرګونه جريبه ځمکه يې لرله او له همدې لارې يې خپل ژوند پر مخ وړ. پر وطن د شوروي د يرغل له امله دوی هم د خپلو سيمو او کروندو پرېښودو ته اړ شول، چې د بې ځايه توب سر يې کوټې ته ورسېد.

د سل واړه کورنيو غړي له موټرو څخه زندان کې ښکته کړای شول خو دا تمه ورکړل شوې وه، چې سبا ته به د خپلې سيمې پر لور روانېږي؛ خو داسې ونه شول.

د يادو کورنيو مشر حاجي سرور څه موده وروسته په دې پوهېږي، چې لاله ګذر سيمې ته د شپې لخوا د تګ اجازه نه ورکول انساني همدردي نه، بلکې يوه دسيسه وه، چې د سيمې زورواکو د امنيتي

مسوولینو په مرسته جوړه کړې وه، چې دوی خپلو سیمو ته له ورتګ څخه منع کړای شي.

راغلو کډوالو تر شپږ ورځو پورې له موټرو څخه خپلې کډې راښکته نکړې؛ خو بیا هم پرې نښودل شول، چې خپلو مېنو ته لاړ شي او مجبور شول، چې په همدې زندان کې د بندیانو په څېر ژوند پیل کړي.

د اوومې ورځې سهار وختي پرې د زورواکو لخوا د لښکر په څېر یو ډله راغله، الله اکبر نارې یې وهلې او د دوی د وهلو ټکولو هڅې یې کولې.

دغه لښکرکشي هماغه خلکو وکړه، چې زرګونو جریبه کرنیزه ځمکه او استوګنځایونه یې غصب کړي او د برهان الدین رباني د پاچایي پر مهال یې ورته ناقانونه قبالې جوړې کړې دي، چې د همدې بندی کړای شویو کورنیو کرنیزې ځمکې او استوګنځایونه هم پکې شامل دي.

د دې لپاره چې غصب کړې ځمکې او کورونه دوئ ته پاتې شي؛ د قاضي کبیر په لمسون یې د همدې سلو کورنیو په خلاف په شور جوړولو لاس پورې کړ. د مرګ پر پښتون، مرګ پر کرزي، مرګ پر ظاهرشاه نارې سورې یې وهلې.

په زندان کې د بندو کورنیو مشران هم مجبور شول، چې د ځان او ناموس ساتنې په موخه خپل ځوانان د لرګیو سره د راتلونکي لښکر په مخ کې ودروي.

د کلا بندو پښتنو مشر وويل، چې نږدې يو کال پورې همدا کيسه روانه وه، تر دې چې ښار ته نه شواى تللى، خپلې ورځنۍ ستونزې يې نه شوې حل کولى او ژوند يې ورځ په ورځ ترېخېده.

د لومړي کال په اوږدو کې يې د سر په کوپړۍ کې اوبه وڅکلې، په بېلا بېلو ناروغيو اخته شول، د ياد وړ مرسته ورسره ونشوه؛ خو د سيمې ځينې زړه سواندو ورسره د سون لرګيو يو څه مرسته وکړه؛ خو هغوئ ته هم د سيمه ايزو زورواکو له خوا اخطارونه ورکړل شول؛ چې شوې مرستې بيا تکرار نکړي.

سيمه ايزو زورواکو کلابند پښتانه ښار ته د خپلو ورځنيو ستونزو د حل لپاره له زندانه بېرون نه پرېښودل او که د بېرون وتو هڅه به يې وکړه؛ نو د وهلو ټکولو سره به مخ شول. داسې وخت هم راغلى، چې يو کس يې د سيمه ايزو زورواکو د وهلو لاندې ساه ورکړې وه.

د راستنو شويو پښتنو يو تن مشر ارباب ولي وايې: ((د راتګ په لومړيو ورځو کې زموږ يو کليوال ۴۴ کلن سردار خان د حاجي ادم خان زوی چې د ۱۲ اولادو پلار و، د حاجي سلم(د سيميزو اربکويو مشر) تر لرګي لاندې ساه ورکړه.))

سيميزو زورواکو په راستنو شويو افغانانو د هېڅ راز ظلم دريغ نه کوه. د شمال د ځينو مشهورو ټوپکسالارانو لخوا وسله ويشل کېده، چې راستانه شوي پښتانه له خپلې سيمې څخه وتلو ته اړباسي.

له دوه کاله تېرېدو وروسته که څه هم يادې ستونزې تر يو ځايه حل شوې غوندې دي؛ خو د راستنو شويو افغانانو بنسټيزه ستونزه نه ده حل شوې.

د دوه کلونو په اوږدو کې بار بار د مرکزي دولت لخوا پلاوي سيمې ته ولېږل شول، چې د دوی د کورونو او ځمکو د غصب حقوقي حل پيدا کړي؛ خو د سيمې د زورواکو لخوا يې مخه په هر اړخيزه توګه نيول شوې او لا هم نيول کېږي.

د همدې کلابندو پښتنو يو بل مشر عبدالظاهر وويل: ((څو څو ځله هياتان راغلل، ټول خلک پوهېدل، چې پر موږ ظلم روان دی، فيصلې به يې هم زموږ په حق کې وکړې؛ خو د عملي کولو لپاره يې څوک نه وو.))

ظاهر په زندان کې د کلابندۍ د شپو ورځو د تېرولو په اړه وويل: ((په خيمو کې مو ژوند دی، د بنديانو غوندې اوسېږو، د خيمې تر څنګ مو نغرې جوړ کړي او همدې ته نږدې مو ماشومان قضايي حاجت هم کوي، يو تريخ ژوند دی، چې مجبور يوو بايد تېر يې کړو.))

ځينې کورنۍ يې په زندان کې په داسې خونو کې هم په ډليزه توګه په ژوند کولو مجبورې شوې وې، چې يوازې د يو کس د اوسېدو شونتيا يې لرله.

اخر د دې روانې ستونزې د حل لپاره ځانګړې محکمه وټاکل شوه او هغې هم د دوی په حق کې فيصله وکړه؛ خو زورواکو ونه منله.

سیمه ایزو زورواکو د استناف محمکې ته وړاندیز وکړ، چې دې محکمې هم د کلابندو په حق کې فیصله وکړه؛ خو بنسټیزه ستونزه هماغه وه، چې د فیصلې د عملي کېدو ثوک نه و.

د استناف محکمې د پرېکړې د نه عملي کېدو له امله د ستونزې د حل په موخه عالي شورا وټاکل شوه او هغوئ وروستۍ فیصله وکړه، چې دې خلکو ته دې خپلې ځمکې او کورونه بېرته ورکړل شي.

اوس په داسې حال کې چې راستانه شوي افغانان د دې ټولو فیصلو اسناد په لاس کې لري؛ خو سیمه ایز دولتي چارواکي ورته د نن او سبا وعدې ورکوي.

سیمه ایز چارواکي د یادې شوې پېښې په اړه د یو څه چوپیتا څخه وروسته همدومره وایي، چې دې خلکو ته په کلا کې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

د تخار ولایت د والي ویاند فیض الله توحیدي وایي، چې راستنې شوې کورنۍ یو وخت په کلا کې له زیاتو ستونزو سره مخ وې؛ خو اوس نه دي.

نومورې زیاته کړه، چې دغو کورنیو ته د څښاک د اوبو، کلنیک او نورې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

خو توحیدي د دوی د ځمکو او کورنیو په اړه د ځانګړې محکمې او د عالي شورا د فیصلو په اړه وویل: ((مورږ پلاوی ټاکلی او هیله مند

يوو، چې د پلاوي د رسمي کړنو څخه وروسته به فيصله عملي کړای شي.))

د والي وياند هم د زورواکو پر وړاندې د خپلې بې وسۍ اوښکې تويولې په ښکاره يې رسنيو ته ويل، چې ځينې وخت له کابله رسېدلې فيصلې په ولايتونو کې د عملي کېدو جوګه نه وي.

نو لا هم معلومه نه ده، چې د امن او ثبات په هيله راغلې کورنۍ به تر کومې د خپلو کورونو او ځمکو څخه لرې، په جنګي زندان کې شپې او ورځې تېروي.

# ډېره رايه؛ خو د ګوتو په شمار وکيلان

په پارلماني ټاکنو کې د شمال د پښتنو برخليک
خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۲۰مه، ګڼه/ ۱۳۸۹المريز

که په شمال کې د ميشتو پښتنو رايو ته لږ تم شو؛ نو کولی شي، چې هر ځل پارلمان ته د شمېر وړ استازي ولېږي؛ خو د ځينو نورو لاملونو تر څنګ دوه ستر لاملونه دي، چې له امله يې له خپلو رايو څخه سمه ګټه نشي پورته کولی.

- د زياتو پښتنو نوماندانو درېدل
- د پښتون ميشتو سيمو ناامني

که څه هم په تېرو پارلماني ټاکنو کې د شمال ډېری سيمې د ناامنيو له ګواښ سره مخ نه وې؛ خو بيا هم پښتنو د زياتو نوماندانو د درېدو له امله د خپلو رايو په پرتله پارلمان ته لاره پيدا نکړای شوه.

د بېلګې په توګه د بلخ ولايت يادونه کوو، چې د څلورو نوماندانو د برياليتوب پوره چانس پکې شته؛ خو په تېرو ټاکنو کې يې له دغه ولايت څخه دوه پښتنو مېرمنو پارلمان ته لاره پيدا کړه او بس.

خو دا ځل د يادې ستونزې سربېره د تېرو ولسمشريزو ټاکنو د ناامنيو ترخې تجربې خلک وېرولي او په ټاکنو کې په برخې اخيستو شکمن شوي غوندې دي، ځکه چې د هېواد نورو سيمو په څېر په شمال کې هم پښتون ميشته سيمې ناامنه کړای شوي دي.

په هېواد کې د دویم ځل پارلماني ټاکنو د نوماندانو د ټاکنیز کمپاین په رسمي توګه پیل کېدو سره سم د شمال په ځینو ولایتونو کې د دولت د مخالیفینو د وېرې له امله پښتانه نوماندان غږ نشي ویستی.
یوازې د شمالي ولایتونو په مرکزي ښارونو کې د ځینو نوماندانو پوسټرونه تر سترګو کېږي؛ خو له کلي څخه راغلی کس اړتیا نه محسوسوي، چې لګېدلي پوسټر ته سترګې واړوي، ځکه دی په خپله سیمه کې د دولت د مخالیفینو له وېرې د کمپاین او د رایه ورکولو له اساسي حق څخه ځان برخمن نه بولي.
په داسې حال کې چې د شمال زون امنیتي چارواکي د خپلو دولتي اصولو په نظر کې نیولو سره مجبورېږي، چې ووایي، چې په دغو ولایتونو کې به پارلماني ټاکنې پرته له کوم ګواښه ترسره شي؛ خو که د دوی دغو ادعاوو ته پام وکړو؛ نو له دوو خواوو ورته تم کېدی شو.
لومړی د امنیتي مسولینو شوې ادعاوې د هغو سیمو په اړه سمې دي، چې د پښتنو شمېر پکې کم او یا هېڅ پکې نه اوسېږي؛ خو د شمال پښتون میشته سیمو کې په ټوله مانا پارلماني ټاکنې د نه کېدو له ګواښ سره مخ دي.
په شمال کې کندوز، بغلان او فارياب له ناامنو ولايتونو څخه ګڼل کېږي. په دغو ولایتونو کې لومړي دوه هغه ولایتونه دي، چې پښتانه پکې ډېر اوسېږي.
په کندوز کې چهاردره، خان اباد، امام صیب، ارچي او... پښتون میشته ولسوالۍ دي او د همدې ولسواليو له پخو سړکونو ښکته سیمې د دولت د مخالیفینو په ولکه کې دي.

په بغلان کې د پلخمري ښار څخه تر کندوز او د مزارشریف په لور تر رباتک کوتل پورې سیمې پښتنو پورې اړه لري، چې د شمال د یاد وړ ناامنو سیمو څخه ګڼل کېږي.
د تېرې میاشتې په اوږدو کې د پلخمري او مزارشریف پر لویه لار د باغ شمال سیمه کې نږدې هره ورځ تر دې د ناامنیو پېښو زور اخیستی، چې د سیمې اوسېدونکي د خپلو کلیو پرېښودو ته اړ شوي دي.
په فاریاب کې پښتون کوټ، قیصار او... پښتون میشته ولسوالۍ دي او همدا هغې سیمې دي، چې هره ورځ پکې د ناامني یوه پېښه کېږي.
په پورته یادو شویو ډېری سیمو کې د طالبانو لخوا عشر او زکات ټولېږي، ډېری ټولنیزې ستونزې د دولت پر ځای په طالبانو حل کېږي؛ نو په داسې حالت کې چې امنیتي ځواکونه د ټاکنو د ترسره کېدو خبره کوي؛ مالومېږي، چې یا خو ورسره د دولت مخالیفینو وعده کړې، چې د ټاکنو څخه یوه ورځ مخکې به په جوماتونو کې اعلانونه نه کوي، چې که د چا ګوته یې د ټاکنو په رنګ ولېده؛ نو ترې پرې به یې کړي.
په ځینو شمالي ولایتونو کې داسې پښتون میشتې سیمې هم شته، چې د طالبانو رنګ پکې کم دی؛ خو اوسېدونکي یې د ټاکنو په ترسره کېدو شکمن دي.
د بلخ ولایت په پښتون میشتو ولسوالیو (بلخ، چاربولک، چمتال، دولت اباد او شولګر) کې طالبانو ته ورته ډلې راپیدا شوي، چې په

همداسې حساسو سیاسي شپو ورځو کې په ځینو ناامنیو لاس پورې کوي.

کله کله؛ خو داسې ښکاري، چې په ټوله مانا دې ته کار کېږي، چې د پارلمان هغه ټولې دروازې بندې کړای شي، له کومو چې د شمال پښتانه نوماندان ورننوځي. د شمال په ځینو ولایتونو کې چې د پښتنو نوماندانو د بریالیتوب چانس ډېر وي، لکه: کندوز، بغلان او بلخ ولایتونه، په دغو کې د ځینو ډلو ټپلو لخوا چې د زور او زر خاوندان پکې وي، د پښتنو نوماندانو د شمېر د زیاتوالي د هرې ممکنې لارې څخه مخ نه اړوي. داسې سیمې شته، چې د پیسو په زور پکې ځینې پښتانه د نورو فکري او ملي پښتنو نوماندانو د ناکامۍ په موخه درول کېږي، چې رایه وو بشل شي او په پای کې یو هم بریالی نشي.

له بله پلوه ځینې وخت د رسینو لخوا خپاره شوي راپورونه شک پیدا کوي، چې د شمال د پښتون میشتو سیمو په ناامنه کولو کې ځینې دولتي چارواکي هم لوی لاس لري.

د ۱۳۸۹المریز د چنګاښ په ۱۹مه، د شمال زون د ملي اردو د ۲۰۹شاهین قول اردو قومندان جنرال مراد علي مراد (اوس د افغانستان د ځمکنیو قواوو قومندان دی) ځینو څرګندونو څخه په ډاګه کېږي، چې په سیمه کې ځینې دولتي چارواکي د دولت له مخالیفینو سره یو ډول نه یو ډول اړیکې لري، چې د یو بل په چارو کې ورته د مرستو کولو نوم ورکولی شو.

نوموړي رسنيو ته د بغلان ولايت په دهنه غوري سيمه کې د يو لړ چاڼيزو عملياتو څخه وروسته د دغه ولايت ځيني لوړپوړي دولتي چارواکي د دولت له مخاليفينو سره په اړيکو او مرستو تورن کړل. که څه هم دغه تورونه د بغلان والي منشي مجيد په ښکار الفاظو رد کړل؛ خو پښتانه متل کوي، چې شمال نه وي ونه نه ښوريږي.

نو په داسې حال کې چې د دولت د مخاليفينو او دولتي چارواکو تر منځ د اړيکو رنګ تر دې وي؛ نو يوازې د پښتون ميشتو سيمو نا امنه پاتې کېدل له پوښتنې خالي خبره نه ده.

جنرال مراد په ۲۰۹ شاهين قول اردو کې د خپلې دندې په وروستې ورځ د خبرې ناستې په ترڅ کې خبريالانو ته له يو بل راز څخه هم پرده پورته کړه، ويې ويل: د شمال په ځينو ولايتونو، په ځانګړې توګه بغلان کې له ملي اردو سره د دولت د مخاليفينو د پرزولو په موخه د ګلبدين حکمتيار په مشري د حزب اسلامي د وسلوالې ډلې ځينې غړي هر اړخيزې مرستې کوي.

نوموړي زياته کړه، چې په بغلان کې د حزب اسلامي د وسلوالې ډلې او طالبانو تر منځ د خونړۍ نښتې وروسته دغه زمينه برابره شوه، چې دوی له حزب اسلامي څخه د سولې په رواستو کې ګډه واخلي.

پوښتنه دلته پيدا کېږي، چې کله امنيتي ځواکونه وغواړي؛ نو د دولت مخالفين چې هر څوک وي، پخلا کولی يې شي؛ خو ځينې وخت بيا د څو ځله چاڼيزو عملياتو تر سره کېدو سربېره هم يوه سيمه د دولت د مخاليفينو له ګواښ څخه په امن کې نشي پاتې کېدی.

د دولت او د مخالیفینو یادو شویو اړیکو سربېره بیا هم پښتانه نوماندان خپلو سیمو ته د ټاکنیز کمپاین لپاره سفرونه نشي کولی. د پژواک خبري اژانس ته د خپاره شوي راپور له مخې نوماندان یوائې د امنیت د نشتوالي او له طالبانو څخه د وېرې له امله په ولسوالیو کې په ښکاره پر کمپاین لاس نشي پورې کولی.

په کندوز کې د پارلماني کاندیدانو له نوي نوملړ څخه یو نوماند ویلي، چې دشت ارچي ولسوالۍ د طالبانو تر ګواښ لاندې ده او د طالبانو له کسانو پرته پکې نور څوک نشي ګرځېدی.

د هغه په وینا ، دوی کولای شي یوائې د څلورو ولسوالیو په مرکزونو کې چې د حکومت تر واک لاندې دي، له خلکو سره وګوري. دی وایي:
((چېرته چې طالبان وي، موږ نه شو تللای.))

د پښتون میشتو سیمو نوماندان په ښکاره په خپلو سیمو کې کمپاین نشي پیل کولی؛ خو هغه څه، چې یې د کمپاین له پیل څخه تر دې دمه د کمپاین په نوم ترسره کړي، یوائې له ځینو سپین ږیرو او ځوانانو سره یې ځاني ناستې دي، چې هغه هم محدودې دي.

نو په داسې حالت کې؛ خو که دولت په یادو شویو سیمو کې د امنیتي ځواکونو د ځانګړیو امنیتي تدابیرو زمینه برابره نکړي؛ نو په پارلمان کې به د شمال د پښتنو نشتوالی کې دولت هم د جنګسالارانو او د دولت د مخالیفینو سره یو برابر ګرم وي.

د شمال امنیتي ځواکونه که په ټوله مانا د ټاکنو د کمپاین څخه د ټاکنو د ترسره کېدو تر ورځې پورې امنیتي تدابیر ونیسي؛ نو لرې نه ده، چې تر ډېره د ټاکنو روانه لړۍ ښه ترسره شي.

# پارلماني ټاکنې او د شمال پښتانه

خپره شوې: پرخه مجله/ پرله پسې ۲۵مه ګڼه/ ۱۳۸۹المریز

کله چې په بلخ کې زرګونو پښتنو د پارلماني ټاکنو د ترسره کېدو څخه یوه اوونۍ وړاندې ستره غونډه وکړه او په ټاکنو کې یې د خپل ګډون پرېکنده فیصلې وکړې؛ نو په دغه ولایت کې د پښتنو د شمېر په نظر کې نیولو سره انګېرل کېده، چې باید درې پښتانه کاندیدان ولسي جرګې ته بریالي شي. ځکه چې په دې ټاکنو کې د تېرو ټاکنو په څېر د بلخ د پښتنو په اړه داسې څرګندونې سمې نه دې، چې دوی سره یو شوي نه و او د خپلو اختلافاتو په پایله کې یې ولسي جرګې ته لاره پیدا نکړه. د دې ټولو هڅو سربېره بیا هم له دغه ولایت څخه یوه ښځینه وکیله بریالۍ شوه.

په دغه ولایت کې په ټوله مانا له پښتنو سره سیاسي تربګنیو لرونکو ډلو دوی پرې نښودل، چې خپل استازي پخپلو رایو ولسي جرګې ته ولېږي.

په بلخ کې بلخ، چمتال او چاربولک تر ډېره پښتون مېشتې ولسوالۍ دي او د دې تر څنګ په دولت اباد، خلم، شولګر ولسوالیو او مزارشریف ښار کې هم د پښتنو شمېر د یاد وړ دی. په دغو سیمو کې د مېشتو پښتنو د رایو په سمه توګه کارونه لږ تر لږه درې کسان ولسي جرګې ته بریالي کولی شي؛ خو داسې ونشول.

د ټاکنو په ورځ چمتال او چاربولک د ناامنو ولسواليو په کتار کې شمار شوې او په ۹۰ سلنه کليو کې يې رايه ونه کارېده. په داسې حال کې چې د ټاکنو څخه دوه درې اونۍ مخکې د دغو ولسواليو حالت تر دې ناامنه نه و، چې خلک دې په رايو کې برخه وانخيستلی شي.

د بلخ په څېر د ټول شمال په پښتون ميشتو سيمو کې د ټاکنو همدا حال و. په فارياب ولايت کې ۱۸ مرکزونه په هغو سيمو کې تړل شوي و، چې پښتانه پکې اوسېدل. د سيمې د اوسېدونکو په وينا بار بار يې له دولتي، امنيتي او د ټاکنو د کميسون د چارواکو سره اړيکې نيولې، چې دوی په خپلو سيمو کې د رايې د کارونې په پوره توګه ضمانت کوي، بايد مرکزونه يې پرانيستل شي؛ خو داسې ونشوه.

د بغلان ولايت له پلخمري ښاره د کندوز تر ګردابه او د سمنګانو تر رباتک کوتل پورې سيمو کې پښتانه ميشت دي او په همدې سيمو کې ټاکنې ترسره نه شوې. ويل کېږي، چې د ټاکنو په ورځ په چشمه شير سيمه کې پوليسو خپلې پوستې د طالبانو په نوم ځينو سميه ايزو غير مسوولو وسلوالو ته پرې ايښې وې او خلک يې دې ته پرې نښودل، چې په ټاکنو کې برخه واخلي.

که د ټاکنو پايلو ته نظر وکړو؛ نو د شمال په څېر په ټول هېواد کې د ټاکنو په ورځ له پښتنو سره ستره لوبه شوې ده. غزني د دغې لوبې له ټولو ښه بېلګه ده، کوم قانون او کومه شرعه به دا ومني، چې د يو ولايت د ۸۰ سلنې اوسېدونکو څخه دې يو استازی هم نه وي او ولسي جرګې ته بريالي يوولس واړه وکيلان دې د درې ولسواليو اوسېدونکي وي.

په تېرو پارلماني ټاکنو کې د هېواد له دې ستر ملت سره داسې لوبه وشوه، چې تاریخ به یې یاد ساتي.
د ټاکنو کمېسون او په ځانګړې توګه دولت باید د دغه ترسره شوي ناورین مخه ونیسي او د پښتنو سره د شوې لوبې پای ته مثبت رنګ ورکړي، کنه پارلمان ته دېرو داسې کسانو هم لاره پیدا کړې، چې ځان افغان نه بولي او د افغانستان له نوم سره مخالفت کوي.
دولت باید د ولسي جرګې د شویو ټاکنو په اړه بیا کتنه وکړي او داسې ولسي جرګه ملت ته وړاندې کړي، چې رښتیني استازي پکې ولري.

د قران په ننګه د مزارشریف وېرونکی لاریون:

# وروستي لاریونونه که ورکي لارې

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۲۲مه ګڼه/ ۱۳۹۰المریز

د ۱۳۹۰المریز د وري په ۱۵مه، د جمعې له لمانځه وروسته د مزارشریف ښار د بېلا بېلو جوماتونو خلک د روضې انګړ کې غونډه شول او د قرانکریم د یوې نسخې د سوزونې په ننګه یې غونډه پیل کړه. په غونډه کې د دغه ولایت د مذهبي ډلو مشرانو، یو شمېر مولیانو، د ولایتي شورا ریس او... خبرې وکړې؛ خو ځینې په کې داسې هم غرېدل، چې باید د خلکو احساسات وپاروي او نن باید له څه کولو پرته تش لاس کورونو ته ساتنه نه شي. همداسې وشول، غونډه په لاریون بدله شوه، چې زرګونو کسانو بدرګه کړ. د لاریون مخه په مزارشریف کې د شمال زون د ملګرو ملتونو د دفتر په لور شوه، چې په ترخ کې یې دغه دفتر وسوزل شو او د یوې ښځې په ګډون پکې اووه بهرني کارکونکي ووژل شول او یو ټپي شو. سربېره پر دې د پولیسو او لاریون کوونکو په اخ و ډب کې ۲۰عام وګړي ټپیان او ۵ ووژل شول.

داسې فرض کوو، چې د مزارشریف د وېرونکي لاریون تر څنګ په ټول هېواد کې د قران کریم د سوزونې په ننګه لاریونونه نه دي شوي.

د امریکا په کلیفورنیا ایالت کې یو متعصبه پادري د قران کریم یوه نسخه وسوزوله او د ټولې نړۍ مسلمانانو ته یې سپک نظر وکړ؛ نو په

دغسې حالاتو کې ربنتیا ده، چې د یو مسلمان وینه په جوش راځي؛ خو هڅه کوو، چې له دې جوش څخه ناوړه ګټه نه، بلکې سمه ګټه پورته کړای شي.

پادري ملامت دی او په نړیواله کچه باید ملامت کړای شي؛ نو څه کول پکار دي !؟

لومړی خو باید اسلامي هېوادونه غلي پاتې نه وای او د تل په څېر یې افغانان د اسلام ګټېلو ته یوازې پرې ایښي نه وای؛ خو دا چې داسې وشوه؛ نو افغانان باید کومه لاره غوره کړي.

د افغانستان په هر ولایت کې د علماوو رسمي شوراګانې فعالیت کوي. د قران د سوزونې پر وړاندې که د ټولو ولایتونو د شوراګانو غړي کابل ته راټول شوي وای او په دې اړه یې کانفرانس ورکړی وای، چې پادري یوازې د اسلام نه، بلکې د نړۍ د هر منسوخ دین خلاف کار کړی، باید سزا ورکړل شي؛ نو ګټه به یې ټول اسلامي امت ته وه.

له افغان دولت څخه غوښتنه شوې وای، چې له اسلامي هېوادونو دې مرسته وغواړي، چې په نړۍ کې د ورته کړنو په مخنیوي کې یې لاس نیوی وکړي. په امریکا فشار راوړل شوی وای، چې که ربنتیا هم افغانستان ته د سولې رواستو په موخه راغلي او په ربنتیني توګه له دې کړېدلي افغان اولس سره ملتیا کوي؛ نو د دوی احساساتو سره دې لوبې نه کوي او پادري دې نړیوالې محکمې ته کش کړای شي.

کله چې د طالبانو دوره کې د بودا مجسمې ونړول شوې؛ نو د نړۍ په کچه يې پر وړاندې داسې غبرګونونه وشول، چې د طالبانو تر څنګ يې ټول افغانيت له پوښتنې سره مخ کړ او له همدې امله هر سړي او نه سړي افغانان خولې خولې کړل.

نن چې يو امريکايي پادري د اسلام ارزښتونو ته په سپکه ګوري؛ نو بايد په اصولي لارو يې داسې مخه نيول شوې واى، چې بيا يې ځوک تکرار نه کړاى شي.

خو داسې ونه شول، يو ځل بيا د جنګ ځپلو افغانانو له احساساتو څخه ناوړه ګټه پورته شوه.

په هېواد کې ډېرى عام وګړي فکر کوي، چې په افغانستان کې د تروريزم پر وړاندې روانه جګړه د امريکا د نړۍ رامولو ستره پروژه ده. کله کله خو د اسامه تر څنګ د ملاعمر شتون ته هم د شک په سترګه ګوري. دوى په دې اند وي، چې په هېواد کې د روانو ناخوالو ډېره پړه پخپله پر امريکا ده او د ستونزو چړ هم د همدې هېواد تر لکۍ لاندې دى.

که له همدې زاويې فکر وکړو !

څه موده وړاندې د ولسمشر کرزي لخوا د مزارشريف په ګډون د هېواد هغه اووه سيمې په ډاګه شوې، چې په روان دوبي کې به يې د امنيت چارې افغان ځواکونو ته سپارل کېږي او دغه لړۍ به تر ۲۰۱۴ز، پورې د بشپړېدو څنډې ته رسېږي.

له دې اعلان سره چوخت په امريکا کې په ناوړه توګه د قرانکريم يوې نسخې ته سپکاوی کېږي. دلته مذهبي ډلي د قران په ننګه دربړي او د خلکو د احساساتو په راپارولو کې تر دې بريالي کېږي، چې د خپلو خلکو وينه تويوي، د ملګرو ملتونو د دفتر د سوزونې او د يو شمېر ملکي بهرنيانو د وژنې تر څنګ پکې په خپلو شتمنيو هم سرفه نه کوي.

دغې پېښې له يو بل سره ژور تړاو لري، ياني د قرانکريم يوه نسخه په دې موخه سوزول شوې، چې دم ګړی د هغې خاورې د خلکو له احساساتو ناوړه ګټه پورته کړي، چې امريکا ورسره لاس او ګريوان ده.

د مزار لاريون په پای کې داسې بڼه غوره کړه، چې امنيتي ځواکونه يې په ټوله مانا په رامولو کې پاتې راغلل.

بلخ او په ځانګړې توګه د دغه ولايت مرکز-مزارشريف د هېواد په کچه په هغو سيمو کې شامل و، چې دولتي مسوولينو به يې وخت ناوخت د امنيت او ثبات نغارې غږولې. دا چې په داسې يوې سيمه کې افغاني ځواکونه، چې د ټول شمال زون د ملي اردو، ملي پوليسو، سرحدي پوليس او د ايساف قرارګاګانې پکې شتون لري، بيا هم لاريون رام نه کړای شو، ډېرې پوښتنې راولاړوي.

په مزارشريف کې ترسره شوي لاريون خلک وويرول او دغه ويره هغه مهال لا پسې زياته شوه، چې د ملګرو ملتونو دفتر له بريد څخه

وروسته وسوزول شو او تر ماښامه د ښار په مرکزي څنډو کې ډزې کېدلې.

د ملګرو ملتونو د فتر له سوزېدو سره د ښار حالات بدل شول، پولیسو به ځای ځای هوايي ډزې کولې، چې له امله یې په خلکو کې وېره خوره شوه. ډېری خلکو هڅه کوله، چې د ښار له واټونو کورونو ته ځان ورسوي.

د امنتي مسوولینو په وینا لاریون ته مخالف وسلوال ورننوتي وو، چې د یوناما د څلور ساتونکو له وژنې څخه وروسته یې د هغوی وسلې تر لاسه او د دفتر دریې نور ملکي کارونکي ووژل او بیا یې دفتر ته اور واچوه.

هلته د یوناما له دفتر دوخړې پورته شوې او دې خوا وسلوالو د ښار په لورحرکت وکړ، ځای ځای ډزې پیل شوې، تر دې چې یو شمېر وسلوالو د روضې څنډو ته ځانونه ورسول.

داسې انګېرل کېده، چې ګواکې په ښار برید شوی، د روضې شاوخوا د موټرو او خلکو په ګرځېدو بندیز ولګېد او تر ماښامه په ښار کې د ډزو اوازونه اورېدل کېدل.

د قران په ننګه لاریونونه یوازې په مزار کې نه بلکې د هېواد په ډېری ولایتونو کې تر سره شول، چې په کندهار کې شوي لاریونونه هم د سختو مرګو ژوبلو لامل شول.

د دغه ولایت په مرکز کې ۱۳۹۰المریز د وري په ۱۲مه، خلک د سوله ایز لاریون په موخه راووتل، خو ډېر زر یې بڼه بدله شوه او د لسګونو

عامو خلکو د مرګ ژوبلې لامل شو. د دولتي شتمنیو تر څنګ په کې د عامو خلکو شتمني او شخصي ملکیتونه هم په لویه کچه زیانمن شول.

که څه هم د مزار په پرتله په کندهار کې عامو خلکو ته ډېره مرګ ژوبله اوښتې وه، خو د مزار لاریون په ترځ کې د ملګرو ملتونو پر دفتر برید او په پایله کې یې د همدې دفتر د اوه بهرنیو کارکونکو وژنې د نړیوالو غوسې راوپارولې. افغان دولت که څه هم په دواړو ولایتونو کې پر ترسره شویو لاریونونو اندېښنه وښوده؛ خو د نړیوالو د فشار له امله د دغو لاریونونو په ترځ کې د وژل شویو افغانانو یادونه تته وه.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما که له یوې خوا په کلفورنیا ایالت کې د پادري لخوا د قرانکریم د یوې نسخې د سوزونې عمل متعصبانه وباله؛ نو له بلې خوا یې په افغانستان کې د لاریونونو په ترځ کې اوښتي زیانونه له شرمه ډک کړنلې دي. نوموړي په دې زیانونو ځکه خپه دی، چې په مزارشریف کې د قهربدلي لاریون په ترځ کې د ملګرو ملتونو اوه کارکونکي ووژل شول او یو ټپي شو.

نو که په پیل کې د قرانکریم د یوې نسخې د سوزونې پر وړاندې د غبرګون بڼه د وړاندې شوې فرضیې په توګه شوي وای؛ نو ګټه به یې ډېره وه. ځکه دغه ربښتیا هم جوړه کړای شوې لوبه وه او افغانان پکې د تېر وخت په څېر وغولول شول.

په لوی لاس پادري دې ته هڅول شوی و، چې د عامو افغانانو له احساساتو څخه د تېر په څېر یو ځل بیا ناوړه ګټه پورته کړي. نړۍ ته مسلمانان یو ځل بیا جنګ خوښونکي خلک وروپېژندل شي او دا په

ډاګه شي، چې افغانستان هغه سیمه ده، چې د نورو هغو په پرتله پکې د سولې غړېدو ډېر پورته کېده؛ هم د ناامنۍ له ګوابن سره مخ کېدی شي.

په دغسې حالاتو کې به څه ډول د امنیت د لېږد پروسه پیل شي او له حقیقته لرې خبره به نه وي، چې د دې هر څه پړه پر امریکا واچول شي.

اوس نو ځینې سیاسي کارپوهان ملامت نه دي، چې په زغرده وايي، چې د انتقال پیل کېدونکې پروسه باید پیل نه شي او لا هم وخت شته، چې د امنیت چارې افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

تر کومې به مونږ وینه تویوو:
خبره یو څه سخته ده؛ خو کول یې اړین دي. رښتیا ده، چې د مسلمان په توګه د قران کریم د سوزونې خبر اورېدل له زغمه پورته خبره ده. غبرګون پکار دی، خو مونږ په دې ډول د قران د سوزونې په اړه غبرګون کوو، چې د همدې قران له اساساتو سره جوړښت نه کوي. سولییز لاریون د هر چا حق دی؛ خو داسې نه ده پکار، چې وینه دې پکې توی شي، عام بې ګناه مسلمانان دې پکې ووژل شي، د مسلمانانو شتمنیو ته دې پکې ژور زیان ورسول شي.
په نړۍ کې نور اسلامي هېوادونه هم شته؛ خو هغوی په داسې حالاتو کې چپ پاتې وي، سعودي عربستان، عراق، پاکستان، ایران او ... هېوادونه غلي دي، یوازې د افغانانو په دغسې حالاتو کې د صبر کاسې ډکېږي.

موخه دا نه ده، چې غلي دې پاتې شي؛ خو هر څه اصول لري، سوله ایز لاریون په دغسې حالاتو کې افغاني او اسلامي حیثیت دواړه ساتي؛

خو اوس چې په څه ډول لاریونونه ترسره شول، دغه دواړه حیثیتونه یې زیانمن کړل.

ولې په دغسې حالاتو کې نور اسلامي هېوادونو چپ پاتې دي !؟ افغانانو ته پکار و ، چې د ورته وینه تویونکو لاریونونو پر ځای یې په همدې اسلامي هېوادونو غږ کړی وای، چې د قران کریم د یوې نسخې د سوزونې پادري یې نړیوالې محکمې ته کش کړې وای او د شریعت او نړیوالو قوانینو له لارې یې ملامت کړی وای، چې بیا دغه ډول کار تر سره شوی نه وای. که د ورته غبرګونونو له لارې د قران کریم د نسخو د سوزونې لړۍ بندېدی؛ نو څه موده وړاندې خو هم د قران کریم یوه نسخه سوزول شوې وه؛ نو بیا ولې د امریکا یو پادري دغه جرئت وکړ.

اوس هماغه پادري وايي، چې دی نه، بلکې پخپله مسلمانان ملامت دي، که هغه قران ته سپکاوی کړی؛ نو مسلمانانو وینه توی کړه.

# شمال: پر پخوانیو لارو نوي پاټکونه

خپره شوې: پرخه مجله/ پرله پسې ۳۲مه ګڼه/ ۱۳۹۰المریز

د ولسمشر حامد کرزي د دورې له پیل سره سم افغانانو د هوسا ژوند یو څه ځرکونه ولیدل. د نړۍ هم دې لورې ته پام شو او د مرستو کولو په موخه یې لاسونه وغځول. دغو حالاتو د نورو ګټو تر څنګ تر ډېره ځایه پخوانۍ جنګسالارۍ هم پای ومونده؛ خو د هېواد په شمال کې لا هم پخوانۍ زورواکي په نوې بڼه روانه ده.

د تېرګنیو په تړس کې د خلکو وژل، د دولتي او شخصي ځمکو غصب او پخواني ګوندي چلندونه هغه څه دي، چې د هېواد په شمال کې یې پخوانۍ زورواکي په نوې بڼه رامنځ ته کړې ده. د همدې زورواکیو په تړس کې داسې سیمې هم شته چې نوي زورواکي پکې پیدا شوي او د پخوانیو پاټکونو په بڼه له خلکو جزیې ټولوي.

د بغلان ولایت د ده صلاح ولسوالۍ په صیاد سیمه کې پر لویه لاره د تېرو څو میاشتو را په دې خوا په رسمي بڼه ناقانونه وسلوالو پاټک جوړ کړی، چې پر سړک تېرېدونکي موټر دروي او جزیه ترې اخلي.

د پاټکونو اصطلاح په افغانستان کې هغه وخت ډېره توده وه، کله چې افغانانو د څو کلن جهاد په پایله کې روسي یرغلګرې لښکرې له دې خاورې په تېښتېدو مجبوره کړې. د جهاد د بریالیتوب د یو ورځني جشن سره سم په هېواد کې خپل منځي اور بل شو. هغه چې سپېڅلي

مجاهدين وو، د روسانو له وتو سره سم يې ټوپک پر ځمکه کېښود او د ورځني عادي ژوند د پر مخ بېولو په غم کې شول؛ خو د جهاد تش په نامه ټېکه داران لا په ميدان کې ولاړ وو او په لوی ستوني يې د خدای پر لاره د کړي جهاد حق د هغه له بندګانو غوښته.

افغان خاوره يو ځل بيا د زورزياتي ښکار شوه، د بې ګنا وژنو، د اباديو د ورانولو او د اسې نورو ناوړه چلندونو تر څنګ پر لويو او وړو لارو پاټکونه هم رامنځ ته شول.

د اوږدو لارو تر منځ به د پوليسو د تلاشي په څېر سړک بند کړای شو او پر سړک روان سپاره به يې کوزول او جزيې به ترې اخيستل کېدې. د هېواد په ډېرو ولايتونو کې به سيمې وېشل شوې وې او هر قوماندان به په خپله سيمه کې د لويې لارې پر سر يو پاټک جوړ کړی و، چې د خدای له بندګانو جزيه واخلي.

د بغلان په ده صلاح ولسوالۍ کې په همدې ډول پاټک همدا مهال کې جوړ دی، چې د سيمې خلک يې له ستونزو سره مخ کړي دي.

دغه خلک د دولت مخالف وسلوال (وسلوال طالبان او د حزب اسلامي ګوند وسلواله ډله) هم نه دي، خو په سيمه کې يې د خپل زور پر مټ پاټک جوړ کړی دی.

ښکاره ده، چې دغه نوي زورواکي د هغو پخوانيو جهادي ټېکه دارانو پاتې شوني دي، چې د خدای له بندګانو د هغوی شته په زور اخلي.

بې دریغه ویلی شو، چې د زورواکۍ دغه بڼه به لا هم د هېواد په ډېرو لرو پرتو سیمو کې روانه وي؛ خو لا هم دولت ورته پام نه دی کړی.

سربېره پر دې چې په تېرو لسو کلونو کې افغان دولت ډېرې لاس ته راوړنې لري؛ خو د کار بستر یې تر ډېره ځایه په ځانګړې توګه لومړۍ درجه ولایتونو او په عمومي توګه د ولایتونو مرکزونه دي.

په سیمه کې د پولیسو کم شمېر او د اوسني وسلوال مزاحمت له امله پخواني زورواکي یو ځل بیا راپورته شوي او پر ناروا لارو په خلکو د خپل ژوند د پرمخ بېلو لپاره هڅې کوي.

د بغلان ولایت سیمه ایز دولتي چارواکي هم د دغه ولایت په صیاد ولسوالۍ کې د جوړ شوي پاټک پخلی کوي؛ خو وایي چې څو ځله یې د ماتولو سربېره هم په دې نه دي بریالي شوي، چې په پوره توګه یې له منځه یوسي. که څه هم چارواکي ډېره پړه د سیمې پر خلکو اچوي، چې ګواکې د زورواکو پر وړاندې چپ دي؛ خو دې ته یې پام نه دی، چې د هغوی د سوکاله ژوند لپاره زمینه برابرول د دولت او امنیتي ځواکونو لومړنۍ دنده ده. په اصل کې خو د امنیتي ځواکونه ستونزه دلته ده، چې د پولیسو شمېر یې دومره نه دی، چې د یوې سیمې د ستونزې د حل په موخه دې، هلته تلپاتې پوسته جوړه کړای شي. که یوه تشه ډکوي؛ نو سل تشې پکې نورې پیدا کېږي.

نو په دې برخه کې پکار ده، چې نړیواله ټولنه د افغان ځواکونو د تعلیم او تربیې تر څنګ د دوی د شمېر د زیاتولي لپاره هم اړین تدابیر ولري او د عملي کېدو لپاره یې کوټلي ګامونه واخلي.

خلک باید په ورته حالاتو کې تر خپلې وسې د دولت ملګرتیا وکړي. د خپل ژوند د سوکاله راتلونکي په موخه د زورواکو لارې ګودرې او کمزورې اړخونه دولت ته په ګوته کړي.

# د شمال ناامني؛ ورکې لارې او تت مخالفتونه

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۳۰مه ګڼه/ ۱۳۹۱المریز

په تېره لسیزه کې چې څومره د هېواد شمالي ولایتونه د امن په نامه یادېدل، په روانو حالاتو کې هغومره د مرموزې ناامنۍ د پیل بوی ورکوي. په شمال کې حالات د هېواد له مرکزي ولایتونو او نورو څنډو سره خورا توپیر لري. دلته سیاسي حالات که په ښکاره د مرکزي دولت په ولکه کې دي؛ خو دا هماغه ځمکه ده، چې د پردې تر شا پکې د اوسني دولت پر ضد غړونه هم کله ناکله پورته کېږي. دلته لا هم د تېر وخت سیمه ایزو زورواکو خلک د قومي او سیاسي ګوندونو پر مټ تر خپل تاوجن سیورې لاندې ایسار کړې دي.

په هېواد کې روان سیاسي مخالفتونه د هېواد د پرمختګ له زاویې وړاندې نه ځي، بلکې هر شخص او هره کړۍ د خپلو شخصي او ګوندي ګټو په موخه د مخالفت پر تېغر ناست دي. له ولسمشر کرزي څخه واخله تر جهادي ډلو، د تېر وخت چپیان، د اوس وخت دیموکراتان او نورې وړې او غټې کړۍ، ډېرې یې پر ورکو لارو روان دي او له یو بل سره د مخالفت په اصلي مانا هم نه پوهېږي.

د جنرال دوستم، احمد ضیا مسعود او محمد محقق د متحدې جبهې په نامه د نوي سیاسي تشکیل جوړېدل، چې په ښکاره د اوسني دولت

پر ضد شعار ورکوي، د سياسي چارو او شور بستر يې همدا شمال دی. دغه ډله که څه هم په سولېدلي خو نوي نوم سره ښکاره شوې؛ خو لوبغاړي يې هماغه پخواني دي، چې په تېره لسيزه کې کله په ارګ کې دننه او کله له ارګ ويستل شوي دي.

په دغه چوکاټ کې ډېری هماغه څېرې يوځای شوي، چې په تېرو ولسمشريزو ټاکنو کې يې د ولسمشر کرزي پوره ملاتړ وکړ؛ خو د وخت په تېرېدو نوموړو د ولسمشر له سياسي دسترخوان څخه ځانونه لرې درک کړل، د خپلو ګټو مړی يې پکې ونشوې کړای؛ همدا وه، چې خپل ځان ته د ټاکلي حق د اخيستو لپاره يې د بغاوت لاره غوره کړه.

لومړی شور د برلين د غونډې و، چې پکې همدا خواوې د ځينو نويو لوبغاړو سره څنګ په څنګ کېناستې او د هېواد د تجزيې د مسلې د پورته کېدو له لارې يې پر افغان دولت فشار راوړ. له دې سره يې جوخت د مرکزي ولايتونو په ګډون د شمال په ځينو ولايتونو کې د خپل شتون د ښودو په موخه سياسي شور لرونکې غونډې وکړې.

له دې سره په هېواد کې د حزب اسلامي ګوند د پخوانيو پاتې شونو تر منځ هم همغږي پيدا شوه او متحدې جبهې ته ورته شور يې جوړ کړ. دغه ډلې چې په هېواد کې له تېرو څو کلونو د يو بل مخالف لورې پاتې شوي، د يو بل پر وړاندې د درېدو هېڅ فرصت له لاسه نه ورکوي.

حزب اسلامي که له يوې خوا د دولت د مخالفې وسلوالې ډلې په توګه چاته کمه نه وايي؛ نو له بله اړخه يې يوه کړی د اوسني دولت د ګډې

پر شاوخوا څرخي، چې د بې وسلې مبارزې میدان هم ترې څوک ونه ګټي.

هلته که تخار او فارياب کې د متحدې جبهې لخوا د خپل نفوذ د څرګندولو په موخه ولسي سترې غونډې جوړې شوې؛ دې خوا د حزب اسلامي لخوا په بلخ او کابل کې ورته شور لرونکې ولسي غونډې جوړې شوې، چې په يو حساب يو بل ته يې د خپل ولسي زور او ملاتړ د ښودولو ننداري وړاندې کولې.

د يادو ډلو تر منځ د دغو مخالفتونو او د خپلمنځي جنګونو د لسيزې د مخالفتونو تر منځ توپير دا و، چې هلته وسلوال مخالفت و او اوس په يوه اصطلاح سياسي مخالفت روان و، چې په يو حساب يې نېک شګون ګڼلی شو.

دغه اشخاص که د ولس په هينداره کې هر ډول تصوير لري؛ خو د شمال په کچه لا هم په برخليک ټاکونکو څېرو کې شمېرل کېږي. دوی لا هم د تېرو انقلابي دورو د پاتې شوني اغېز پر بنسټ په شمال کې خپل نفوذ لري، چې له لارې يې د هر ډول نظامي او غير نظامي حرکت وس په ځان کې ويني.

د دغو ډلو شور هغه مهال زور پسې واخيست، چې له ۲۰۱۴ز، څخه وروسته له هېواده د بهرنيو ځواکونو د وتو خبرې ګرمې شوې او ورسره غبرګې له وسلوالو طالبانو سره د سولې خبرو هم زور واخيست. داسې اوازې هم پيدا شوې، چې ګواکې ځينې بهرنۍ کړۍ په دې هم

کار کوي، چې د هېواد سویلي برخې د وسلوالو طالبانو په ولکه کې راولي.

له دې سره جوخت په هېواد کې ځینې لرې شوې کړۍ ببرته سره نږدې شوې، چې له ځینو یې همدا متحده جبهه منځ ته راغله. پخواني حزبیان ببرته سره یو شول او د نورو په څېر دوی هم د خپلې برخې د تر لاسه کولو هڅې پیل کړې. دوی چې د طالبانو پخواني دښمنان ځانونه ګڼي، دا ورته د منلو له زغم څخه وتې څرګندونې برېښېدې، چې ګواکې طالبان دې یو ځل بیا په یو شکل نه یو شکل قدرت ته ورسېږي؛ نو د ځان د جوړونې په فکر کې شول.

له بلې خوا پر ولسمشر کرزي د خپلې وروستۍ دورې د پای ته رسېدو تبه راغلې وه، چې له امله یې دی هم د خپل نامه د پاک ساتلو په فکر کې شو. هڅې یې پیل کړې، چې څرنګه پاتې کلونو کې داسې جادوګري وکړي، چې په لږه موده کې حالات ډېر سم کړي؛ خو ورسره دا تورونه هم پرې پورې شول، چې دی په دریم ځل د بیا ولسمشر کېدو په هڅه کې دی، که په دې کې پاتې راشي؛ نو بیا هڅه کوي، چې د خپلې کورنۍ یو غړی د خپل ځای ناستي په توګه وټاکي.

له دې سره جوخت لا پخوا په هېواد کې د ځنځیري وژنو لړۍ پیل شوې وه، چې په ترڅ کې یې د هېواد مهمې څېرې له منځه لاړې. دغه لړۍ تر ډېره په شمال کې څرخېده او د هغو اشخاصو د ژوند لمن یې ورټوله کړه، چې سیاسي چارې یې شمال پورې غوټه وې.

وروستۍ وېرونکي پېښنه د سمنګان د مرکز ایبک ښار کې وه، چې تر ډېره یې د خلکو تر منځ وېره خوره کړه.

دغه برید، چې د یو شمېر لوړپوړو دولتي چارواکو د وژنې تر څنګ یې زیات شمېر بې ګناه افغانانو ته مرګ ژوبله واړوله؛ له هغو بریدونو سره یې هېڅ توپیر نه درلود، د کومو مسوولیت، چې وسلوال طالبان پر غاړه اخلي؛ خو د دغه برید په اړه چپ پاتې شول، چې ورسره په شمال کې د خپل منځني اور د بلېدو ګونګوسې هم پیدا شوې.

افغان دولت هم د یاد برید په اړه ببلا بېل او ګونګ دریځونه خپل کړل. افغان لوړپوړو امنیتي چارواکو په لومړي سر کې وویل، چې د یاد برید تر شا د بهرنیو هېوادونو لاس دی؛ خو زر یې ورپسې دا خبره هم غبرګه کړه، چې دغه برید هم د افغان وسلوالو مخالفینو لخوا طرحه او ترسره شوی دی.

د ۱۳۹۱المریز د چنګاښ په ۲۴مه، د سمنګان ولایت مرکز (ایبک ښار) د درنې او وېرونکي ځانمرګي برید په دوړو کې ورک شو. دغه برید، چې په ښکاره یې هدف په هېواد کې د رواني ناامنۍ د یوې کړۍ په څېر و، زیات شمېر بې ګناه افغانان ووژل؛ خو په سیاسي لحاظ یې د هېواد او په ځانګړي توګه د هېواد د شمال خواوې هک پاتې کړې.

په دغه برید کې د جنبش ګوند پخوانی غړی او په ولسي جرګه کې د سمنګان د خلکو استازی احمد خان سمنګاني، د لویدیځ زون د پولیسو د عمومي قومندانۍ قومندان محمد خان، د سمنګان ولایت

د ملي امنيت ريس ووژل شول او زيات شمېر لوړپوړي چارواکي پکې ټپيان شول.

دغه برید که څه هم پر طالبانو تپل کېږي؛ خو داسې هم انګېرل کېږي، چې په شمال کې د نوې مرموزې لوبې د پيل يوه کړۍ ده، چې هېواد د بربادۍ پر لور بيايي.

په شمال کې د ازبکستان د افراطي وسلوالې ډلې چې له القاعدې سره ښکاره تړاو لري، فعالېدل، د ځنځيري وژنو تر څنګ د وېرونکو حملو زياتوالی هغه خواوې دي، چې د شمال د ناامنۍ څرکونه پکې ښکاري.

شمال د افغانستان لپاره د سياسي اړخ تر څنګ په اقتصادي او فرهنګي خواوو کې هم خورا مهم دی، چې بايد سمبال کړای شي. که چېرې سياسي اشخاص د شته حکومت پر ضد سره ټولېږي او د خپل فکر له لارې د وطن د ابادۍ لپاره لارې سنجوي؛ نو هېڅ ګرم نه دي بلکې د هېواد د شته قوانينو له مخې قانوني حق هم لري؛ خو دغه سياسي تربګني بايد په داسې لارو چارو عملي نه شي، چې د قوميت او شاهي سياسي ګوندونو د ودې او پر خلکو د تپل کېدو رنګ ولري.

حکومت بايد د خپل اپوزيسيون د ځيلو په موخه پر ورانو لارو ګامونه وانخلي، ځکه چې د بدو پايلو درد يې يوازې ولس ته رسېږي.

که ولسمشر کرزی د خپلې دورې د اوږدېدو غم کوي او يا هم شته جمهوريت ته په غير مستقيمه توګه د شاهي نظام شکل ورکوي؛ نو دا

په دې مانا نه ده، چې د ولسمشر د مخنیوي لپاره دې، د اسې لاره غوره شي، چې د هېواد د تجزیې بوی دې ترې راشي. له بلې خوا که د ولسمشر کرزي په مقابل کې مخالف لوري زیاتېږي؛ نو ولسمشر دې هم د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره داسې لاره نه غوره کوي، چې یو ځل بیا هېواد د ګاونډیو د استخباراتو جوړیو شویو کړیو ته وسپارل شي.

# په شمال کې پخوانۍ وسلوالې ډلې

خپره شوې: پرخه مجله/ اتم کال، پرله پسې ۲۷مه، ګڼه/ ۱۳۹۱المریز

د هېواد شمالي ولایتونه لا هم د تېرو څو کلونو را په دې خوا د غیر قانوني وسلوالو ډلو په لومو کې دي، چې له امله یې په دغه زون کې د وسلو او نشه ايي توکو د قاچاق تر څنګ د دولت مخالفو وسلوالو ته هم د ورانکارۍ زمینه برابره شوې ده.

سربېره پر دې، چې له تېرو شپږو کلونو په شمال او شمال ختیځ کې د وسلې ټولونې پروسه (ډاياګ) هم پېل شوې؛ خو لا هم ډېرې داسې ډلې شته، چې غیر قانوني وسلې ورسره پاتې او د غیر قانوني چارو د تر سره کولو لپاره یې کاروي.

د یادو وسلو شتون که څه هم خورا ډېر منفي لوري لري؛ خو په سیمه کې د قوم او سمت په نامه د خپلمنځي جنګونو د اور د بیا بلولو لامل هم کېدی شي.

له نېکه مرغه د هېواد په تېر لس کلن سیاسي مزل کې شمالي ولایتونه په امن کې پاتې شوي؛ چې له امله یې د جنوب او ختیځ په پرتله د اقتصاد، سیاست، کرنې، پوهنې او دې ورته نورو برخو کې د زیات پرمختګ زمېنه برابره شوې او تر یو ځایه له دغه حالته ګټه هم اخیستل شوې ده؛ خو لکه څنګه چې د هېواد دغه سیمې نظر نورو برخو ته د نفوس له لحاظه خورا مختلطې دي، نو کمکی سیاسي او

انقلابي بدلون پکې هم د نورو ولایتونو په پرتله ډېر حس کېږي. همدا لامل و، چې د جهاد او خپلمنځي جنګونو پر مهال د بېلا بېلو قومونو تر منځ د جنګ ډګر ګرځېدلی و.

که نن به کوم تاجک قومندان د پښتنو پر کلي د خپل سیال قومندان د ځپلو په موخه برید وکړ؛ نو سبا چې به د پښتون قومندان لاس بر شو؛ نو هغه به هم د چا خاطر نه کوه. همداسې اوزبک، هزاره او نور قومونه.

دغه راز د دې سیمې قومونه د بېلا بېلو ګوندونو سره د تړاو او د خپلو شخصي ګټو له امله یو بل ته په سنګرونو کې ناست وو.

که څه هم د تېرو اووه کلونو په ترڅ کې د شمال ډېر پخواني جهادي او غیر جهادي قومندانان بې وسلې شول؛ خو له زیات شمېر وړو سرګروپانو سره خپلې وسلې هماغسې پاتې دي. د حالاتو په تېرېدو د زورواکۍ پخوانۍ لارې پیکه شوې او د نوې ډیموکراسۍ سره یې نوې لارې وموندل شوې.

هغه ډلې چې لا هم ورسره وسلې پاتې دي، په خپلو سیمو کې له پخوا د قومندانانو په نامه پېژندل کېږي، چې اوس هم د خپلې زورواکۍ د بیا څرګندولو بېلا بېلې اشارې کوي. دغه زورواکان په څو ډلو ووېشل شول. یو شمېر د هېواد په کچه له سترو سیاسي ډلوسره یوځای شول او د پیسو په بدل کې یې د هغوی په ګټه کړنې پیل کړې، چې چارې یې د همدې وسلو له لارې په ناسمو طریقو ترسره کېږي. له همدې خوځښتونو د ولسمشرۍ، ولسې جرګې او د ولایتي شورا په ټاکنو کې کار واخیستل شو. رایې یا د ټوپک او یا هم د پیسو له لارې

خپلې شوې. همدا لامل دی، چې د تېرو دوه دورو د یادو ټاکنو پایلې د شمال زون د نهو ولایتونو د اوسېدونکي د هیلو سره ډېر توپیر لري.

ځینې پخوانې وسلوالو زورواکو په سیمه کې د نشه ایي توکو او وسلو په قاچاق لاس پورې کړ. په شمال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال خلک له ډېر غربته د کوکنارو په کرلو عادت شوي وو. دغه کر له هماغه وخته د شمال په ځینو ولایتونو کې روان دی. که څه هم په شمال کې د نشه ایي توکو کر په زیاته پیمانه نه کېږي؛ خو د شمال سرحدونه یې د قاچاق لپاره ښې لارې دي، چې دغه سوداګریز سیستم هم د غیر قانوني وسلوالو لاس ته وغورځېد. دوی د همدې لپاره مجبور شول، چې خپلې وسلې له ځانه سره وساتي او د ځان ساتنې تر څنګ ورسره خپله سوداګرۍ هم لا پسې وغځوي. دغه غیر قانوني وسلوالې ډلې نه یوازې چې د سیمې د ناامنۍ لامل دي، بلکې د شمال زون دولتي او امنیتي چارواکو ته هم وخت ناوخت سردردي جوړوي. د شمال زون امنتیي مسولینو سره هم د دغه زون په سرحدونو کې د نشه ایي توکو او وسلو قاچاق اندېښنې پیدا کړې دي.

د دغه زون د ۲۰۹ شاهین قول اردو قومندان برید جنرال زلمي ویسا د ۱۳۹۱المریز د غویي په ۱۸مه، په خبري ناسته کې وویل، چې په شمال کې د وسلوالو طالبانو سربېره ځینې نورې وسلوالې ډلې هم د سیمې د امنیت د خرابېدو په موخه فعالیت کوي.

نومورړي اند ښښنه وښوده، چې له دغو ډلو سره د سیمې د نشه يي توکو قاچبران نږدې تړاو لري او په تولهٔ مانا يې هراړخيز ملاتړ کوي، چې د دوی په ګټه سیمه ناامنه کړي.

برید جنرال ویسا وویل: ((له شماله د نشه يي توکو قاچاق لا هم روان دی، زه په پوره یقین سره وایم چې په دغه قاچاق کې د ځینو بهرنیو هېوادونو قاچابران هم شامل دي.))

نومورړي د بهرنیو قاچاقبرانو په اړه ډېر مالومات ورنکړل؛ خو زیاته يې کړه، چې له دې لارې د شمال په ناامنیو کې بهرنیان هم لاس لري.

هغه په ښکاره الفاظو کې وویل، چې د نشه يي توکو قاچاقبران وسلوالې ډلې لري او د پولیسو د مخنیوي لپاره یې په سیمه کې فعالې کړې دي.

کله کله د همدې پخوانیو جنګي قومندانانو د خپلمنځي شخړو له امله سیمه ایزې ستونزې هم پیدا کېږي او د تېر انقلاب د دورې په څېر خلک په وېره کې ژوند تېروي.

امنیتي مسوولین وايي، چې په دغه زون کې د پخوانیو جنګي قومندانانو تر منځ اختلافات او له امله يې پیدا شوې شخړې د دې لامل کېږي، چې سیمه لاپسې ناامنه شي. دوی وايي، چې د دې پر ځای چې پخواني قومندانان له دولت سره مرسته وکړي، پخپلو کې د شخصي ګټو په موخه خپلې شته وسلې کاروي او له دې حالت څخه د سیمې وسلوال طالبان هم د ناامنۍ راوستو لپاره ناوړه ګټه پوره کوي.

جنرال ویسا د ۱۳۹۱المریز د مرغومي په ۲۹مه، په یو بله خبري ناسته کې وویل: ((په شمال کې د پخوانیو جنګي قومندانو له اختلافاتو څخه وسلوال طالبان سوا استفاده کوي.))

نوموړي اندېښنه وښوده، چې لا هم په شمال کې یو شمېر پخواني قومندانان د وسلې ټولونې له پروسې څخه لرې پاتې دي، چې خپله وسله د شخصي ګټو په خاطر له یو بل سره په وړو وړو نښتو کې کاروي. د هغه په وینا دغه ډول نښتې سربېره پر دې چې سیمه ناامنه کوي، وسلوالو طالبانو ته هم وخت ورکوي، چې لا پسې پیاوړي شي.

د شمال زون د وسلو ټولونې پروسې (ډایاګ) مسوولین هم دا مني، چې لا یې هم په دغه زون کې په پوره توګه غیرقانوني وسله نه ده ټوله کړې. که څه هم په شمال کې د همدې پروسې له لارې نږدې ۱۸ ولسوالۍ د سولې په نامه نومول شوي او زرګونه میله وسله ټوله شوې؛ خو بیا هم شمال زون د غیر قانوني وسلوالو ډلو په لومو کې دی.

د دغه زون د وسلو ټولونې د پروسې مسوولین وايي، چې دوی تر خپلې وسې د وسلو ټولونې چارې ګړندۍ پر مخ وړي خو په دې هم اعتراف کوي، چې لا هم ډېر وسلې پټې او ښکاره شته دي.

د روان کال د تلې په ۲۲مه، په مزارشریف کې د شمال زون د وسلو ټولونې پروسې قومندان برید جنرال عبدالمنان د بلخ ولایت له امنیه قومندانۍ څخه د ۲۲میله وسلو د اخیستنې پر مهال وویل، چې په شمال زون کې لا هم غیر قانوني وسلې شتون لري. نوموړي زیاته کړه،

چې د دوی د لومړنیو څېړنو پر بنسټ په شمال زون کې ۵۰۰ غیر قانوني وسلوالې ډلې وې، چې د تېرو څو کلونو په ترڅ کې یې دوی یوازې ۱۸۵ بې وسلې کړې دي. په دې اړه یې اند ښننه هم ونښوده، چې لا هم د شمال زون په بېلا بېلو ولایتونو کې د وسلو او نشه ايي توکو د قاجبرانو په ګډون د غیر قانوني وسلو ۳۱۵ ډلې لا هم فعالې دي.

که څه هم په شمال کې یادې وسلوالې ډلې ورځ تر بلې پیاوړې کېږي؛ خو که چېرې د شمال زون دولتي او امنیتي چارو کي د دغه زون د حقیقي پرمختګ لپاره سره لاس ورکړي او د مرکزي دولت پوره ملاتړ هم ورسره مل وي؛ نو په اسانه یې مخه نیول کېدی شي.

په بلخ کې د وزير محمد ګل خان مومند په نامه د څلورلارې جوړېدو په تړاو:

# بلخ او وزير محمد ګل خان مومند

خپره شوې: پرخه مجله/ پرله پسې ۲۷مه، ګڼه/ ۱۳۹۱المريز

د بلخ ولايت د يو شمېر قومي مشرانو په هراړخيزو هڅو د دغه ولايت د والي لخوا د بلخ ولسوالۍ څلور لارى د وزير محمد ګل خان مومند په نامه ونومول شو، چې د ۱۳۹۰المريز د سلواغې په ۲۷مه، يې د يو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کې د جوړېدو چارې پيل شوې.

دغه څلور لارى د هېواد پر حلقوي سړک د مزارشريف او شبرغان پر لويه لار موقيعت لري.

دا هغه څلور لارى دى، چې خاورې يې د وزير بابا د پلونو نښې له ځانه سره لري. اروانباد به پر همدې څلور لارې د بلخ ولسوالۍ له بازاره تېرېده او خپل کلي مومندانو ته، چې اوس د وزير اباد په نامه يادېږي، تلو.

په دغه کلي کې لا هم د وزير بابا پلرنۍ کلا ولاړه ده، چې اوس يې د محمد عمر خان په نامه تربور پکې اوسېږي.

که څه هم د وزيربابا په نامه د يو څلور لارې نومونه د دې غښتلي مشر د خدمتونو په ياد کې وړه چاره ده؛ خو که د حالاتو ببچ و خم ته لږ تم شو؛ نو د هغو دې کور ودان وي، چې د دې سترې چارې فکر ورسره

پیدا شو، هغوی هم د منني وړ دي، چې وخت د همدې سیمې د واک پر ګدۍ کېنولي او په رسمي توګه يې د بابا په نامه د دغه ثلور لاري د نومولو غونډتنلیک لاسلیک کړ.

په بلخ کې له دې مخکې ډېر ثلور لاري جوړ شوي. په مزار ښار کې خو داسې ډېر دي، چې سوداګرو پکې په خپل نامه ثلي ودرول؛ خو دا چې د بلخ ولسوالۍ ثلور لارى د هېواد د ملي شخصیت وزیر محمد ګل خان مومند په نامه ونومول شو، ډېر پرې خوښ شول. د ډېرو له زوړونو يې کرکې لرې کړې او د مینې ور يې پرانیست؛ خو بدبختانه ځینې داسې غروړنه هم وخت ناوخت اوربدل کېږي، چې ګواکې ځینې پرې خپه دي.

د دولتي چارواکو او د یو شمېر قومي مشرانو لخوا د ثلورلاري د ثلي د بنسټ ډېرې د ایښودو پر مهال، له ځینو کسانو په بربنډه توګه داسې غروړنه هم واوربدل شول، چې ښایي د وزیر بابا په نامه د دغه ثلور لاري په نومولو يې خوا بدېده. دا مهمه نه ده، چې موږ یو کار کوو، نو ضرور دی، ټول خلک هغه ته ښه ووايي؛ خو د ځینو خلکو د سمې پوهېدنې په موخه په شمال کې د وزیر بابا ژوند او ځینو تر سره شویو ملي چارو ته یو څه تم کېږو.

وزیر محمد ګل خان مومند پر ۱۳۰۲المریز، په مزارشریف کې د ملکي پلټڼ ریس په توګه دنده ترسره کړې. په ۱۳۱۳المریز يې د کتغن، بدخشان، بلخ او فارياب د تنظیمه ریس په توګه کار کړی دی.

مومند بابا په ۱۳۱۹المریز، د دولت د وزیر په توګه وټاکل شو او له دې وروسته يې ژوند په خپل کاله کې د پښتو ژبې په علمي او ادبي خدمت کې تېر کړ، چې تر ۱۳۲۷المریز پورې په سمنګان کې اوسېده. په همدې کال کابل ته لاړ. له دې وروسته په کابل او ننګرهار کې پاتې شو، چې يو څو ژمي يې په کونړ کې هم تېر کړل.

که څه هم د تاریخي شالید له مخې پښتانه د هېواد د شمال له بلخه نورو سیمو ته کوچېدلي؛ خو د وخت په تېرېدو په بېلا بېلو مهالونو کې بېرته شمال ته راغلي او استوګن شوي دي.

په دې لړونو کې يوه لړۍ د وزیر محمد ګل خان مومند په نامه ده، چې د مرکزي دولت په خوښه يې پښتانه د هېواد له سوېل او ختیځ څخه د هندوکش د غرونو لمنو ته راوستل او استوګن يې کړل.

د وزیر بابا دغو ملي او افغاني کړنو ته ډېرو له چپې خوا کتلي او دی يې ګرم بللی، چې ګواکې دغه چارې د قومي او شخصي ګټو پر بنسټ تر سره شوې دي. دغو فکرونو نه يوازې دا چې د دې ملي شخصیت نیک کار ته په بده کتلي، بلکې د هېواد پالنې ستر احساس يې ژوبل کړی دی.

وزیر بابا شمال ته پښتانه د افغانستان د سیاسي، ملي او اقتصادي ګټو په موخه راوستي او استوګن کړي وو، چې په خپلو دغو هدفونو کې بریالی هم شو. د وخت تېرېدو ثابته کړه، چې د مومند بابا دغو ملي کړنو افغانستان له ډېرو ګواښونو وساته او لا به يې ساتي.

اقتصادي ګټې:

يو وخت د هېواد د شمال په اړه دا متل ډېر عام و: ((که مرګ غواړې کندوز ته لاړ شه)) د دې متل مفهوم دا نه و، چې کواګې په کندوز کې انسان ته د انسان په سترګه نه کتل کېدل او په ډېره اسانه به يې وينه تويده، بلکې هغه مهال کندوز شاړې شاړې دښتې وې، چې د ژوند کولو هېڅ راز پکې پرته له دې چې انسان دې پکې خوارې وکړي، نه و. يوازې کندوز نه بلکې د هېواد ډېرى شمالي سيمې همداسې وې. د هېواد له نورو برخو به خلک هندوستان او نورو ملکونو ته د غلې دانې د ګټلو په موخه تلل، يوې مړۍ ډوډۍ پسې به يې ورځې ورځې سفرونه کول؛ خو د خپل هېواد له امکاناتو ناخبره وو.

له وزير بابا سره د ټول هېواد فکر و. هغه هيله درلوده، چې افغانان د خپل هېواد ځمکې شنې کړي او له منځه يې د ژوند د تېرولو او د خپلو اړتياوو د پوره کولو شونتيا راوباسي.

هغه د خپل هېواد په شمال کې د خپلو دندو پر مهال دغه شاړې او پرېمانه اوبه ليدلې وې او دا شونتيا يې هم درک کړې وه، چې د دغو شاړو په اباديدو کې د ټول هېواد ګټه ده، چې له لارې يې ستر اقتصادي بدلون راتلی شي.

په شمال کې د نفوس په پرتله شاړې دښتې او رغونه ډېر و، چې خلک يې ابادې ته نه شو رسېدلی. په همدې موخه يې د هېواد له ختيځو او سويلي سيمو څخه زيات شمېر پښتانه راوويستل او د شمال په بېلا بېلو سيمو کې يې ځای پر ځای کړل. دلته يې ورته دولتي شاړې

ځمکې او ځنګلونه ورکړل، پرې يې ابادې کړې او د هېواد له هغې برخې چې يو وخت پکې د ژوند مانا مرګ وه، د هېواد کندو جوړ کړ.

اروابناد عبدالشکور رشاد د ((قام غمخور محمد ګل خان مومند ))تر سرليک لاندې مقاله کې ليکي: د هندوکش په شمال کې ډېرې سرکاري ځمکې خورا شاړې پرتې وې، اوبه بېکاره بهېدلې او شاړې ځمکې ځنګلونه کېدل. د سيمې خلکو د کرنې په کار کې ځانونه ډېر نه زهيرول. د للمي لپاره ډېرې دښتې او رغونه د دوی په واک کې وو، يوازې يووه او تخم يې له دوی څخه غوښت؛ نور نو اقليمي شرايطو کښتونه ورپخول. په پراخو دښتو او ويړو راغو د سيمې د خلکو وس نه رسېده، چې ټول وکري او حاصل ترې واخلي؛ خو د افغانستان ځينې سيمې، په تېره بيا هغه، چې د اوسېدونکو شمېر يې ډېر و، غلو دانو يې د خلکو اړتيا نشوه پوره کولی. کرنيزې ځمکې نه وې، چې کرل شوې وای. د سيمې خلک به دې ته اړ وو، چې د مزدورۍ لپاره هندوستان ته ولاړ شي او غنم او جوار ترې راوړي. مفکر محمدګل خان دغه بې ځمکې خلک او کوچيان په منتونو او زاريو د هېواد شمال ته راوبلل او بې خاونده (دولتي) ځمکې يې د هندوکش په شمال کې پرې ووېشلې. ده په دې کړنو د هندوکش د شمالي برخو ډېرې بې خاونده او بې حاصله ځمکې حاصل خيزه کړې.))

وزير بابا نه يوازې دا چې د هېواد يوه شاړه برخه حاصل خيزه کړه، بلکې افغانان يې د خپل هېواد پالنې او ودانوولو ته وهڅول. په عملي توګه يې دغه ډګر ته په زاريو او منتونو ننويستل.

دا چې نن د هېواد شمال د نورو برخو په پرتله خورا حاصل خيزه او ډېرې ځمکې لري؛ دا د وزير محمد ګل خان برکت و، چې بايد په حق کې يې لاسونه پورته کړو.

د وزير بابا لخوا د هېواد په شمال کې د ځمکو د وېش په اړه داسې هم ويل کېږي، چې ده يوازې پښتنو ته ځمکې ورکړې دي. دغه مسله په ټوله مانا غلطه ده. نومړي غښتلي مشر نه يوازې، چې پښتنو ته ځمکې ورکړې، بلکې ټولو هغو شمال ميشتو افغانانو ته يې دولتي ځمکې ورکړې، چې نه يې درلودې. داسې ډېرې بېلګې شته، چې له هغو پښتنو يې هم ځمکې اخيستې دي، چې ډېرې يې درلودې او هغو ته يې ورکړي، چې هېڅ يې نه درلودې.

د بلخ ولسوالۍ د وزير اباد کلي اوسېدونکی او د وزير بابا تربور محمد عمر خان، چې دم ګړی د بابا په پلرنۍ کلا کې ژوند کوي، په لنډکۍ ناسته کې راته وويل، چې وزير بابا په شمال کې له پښتنو پرته ټولو هغو قومونو او کورنيو ته ځمکې ورکړې دي، چې نه يې درلودې.

نومړي د بېلګې په توګه د خپلې ولسوالۍ د برمزيد سيمې يادونه وکړه، چې وزير بابا پکې څلور پيکاله ځمکه ترکمنو ته ورکړې، چې اوس هم پرې اباد دي. همداراز يې د صدراباد کلي اوسېدونکو ته چې پښتانه نه دي، ځمکې ورکړې، چې د همدې ورکړې له امله نن په بلخ کې صدراباد د يو کلي په توګه اباد دی.

نومړي وويل، چې له دوی يې چې تربوران يې کېږي، زياته برخه ځمکه په مومندانو کلي کې واخيسته او مندوزيو ته يې ورکړه.

نو له دې څرګندېږي، چې وزیر بابا د یو انسان په توګه له خپل قوم سره مینه درلوده؛ خو د خپل قوم له لارې یې خپل هېواد ابادول غوښتل، چې اباد یې کړي.

سیاسي ګټې:

د وزیر بابا لخوا د هېواد په شمال کې د پښتنو د میشتولو یو بنسټیز لامل سیاسي اړخ هم دی. ده له هغه وخته دا حالت درک کوه، چې د هېواد شمال هغه لوری دی، چې ممکن له دې لارې پر افغانستان یرغل وشي او د روسانو یرغل دا ثابته هم کړه. وزیر بابا غوښتل، چې په شمال کې د افغانانو ژوند غښتلی شي. دلته د ډېرو افغانان میشتېدل، یوه ستره کړۍ رامنځ ته کوي، چې له لارې یې د هر یرغلګر مخه په اسانه نیول کېدی شي. له همدې امله یې په شمال کې د افغانانو شمېر زیات کړ. دوی ژوند پیل کړ او د خپل ژوند او د هېواد د خوندي ساتلو په موخه اړ و، چې له خپلې خوا ننګه وکړي، غیرت وکړي او خپله خاوره وساتي. ټول قومونه اوږه په اوږه ودرېږي او د خپل هېواد پر وړاندې د یرغلګرو د لارې خنډونه شي. په شمال کې له روس سره په جهاد کې جهادي لیکو دا په ډاګه کړه، چې د وزیر بابا هڅې د یو قوم لپاره نه بلکې د افغانستان لپاره وې.

ملي یووالی:

افغانستان د ګڼو قومونو ګډ کور دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د خپل هېواد پالنې او ساتنې په برخه کې یې سره لاسونه ورکړي او خپل ګډ کور یې په ګډه د وخت له هر جبره ساتلی دی. خو په دې هېواد

راغلو کړاونو او بدبختيو وخت ناوخت دغه وورونه قومونه لړ يا ډېر له يو بله يو څه لرې کړې هم دي.
وزير بابا د افغانستان ساتنې او پالنې په برخه کې د دې قومونو تر منځ د نسبي واټن د کمېدو هڅې هم په جدي توګه کولې او همدا يې د هېواد د روڼ راتلونکي لپاره له ټولو ښه لاره ګڼله.

شمال ته د پښتنو په لېږدونه کې يې يوه موخه دا وه، چې دوی د افغانستان له نورو قومونو سره داسې وپيبيل شي، چې د يو بل په درد دردمن شي او د هېواد د هرې ستونزې د حل لپاره په ګډه لاسونه واچوي. نن کې د يو شمېر سياسي خلکو بدرنګه خويونه سره هېر کړو؛ نو په شمال کې به داسې ډېرې بېلګې پيدا کړو، چې په دې برخه کې د هر قوم ترلې کورنۍ په خپلو کې د واقعي افغانانو په څېر ژوند کوي.

داسې ډېر ولايتونه، ولسوالۍ، کلي او کوڅې شته، چې څنګ په څنګ پکې بېلا بېل قومونه ژوند کوي. له يو بل سره راشه درشه لري، يو ډول دود او دستور لري. د يو بل په غم او ښادۍ کې سره شريک دي، تر دې چې سره خپلوي يې کړې او د وينې له لارې يې داسې پيوندونه اخيستې، چې سره بېلول يې د هېڅ سياسي بدرنګې تګلارې د وس خبره نه ده.

نو ايا لا هم د وزير بابا اراوا ته پر نه يوو، چې د ده په نامه د يو څلورې لارې په نومولو کې مو خورا ځنډ کړی دی. دا خو لا پرېږده، چې ځينې

کړې د خپل هېواد د دې ستر شخصیت د نوم تر څنګ ناکاره الفاظ هم کاروي.

مومند بابا د هېواد له هغو مشرانو څخه شمېرل کېږي، چې لا پخوا باید د بلخ ولایت چارواکو د ده په نامه له دې هم ستر کارونه کړې وای؛ خو دغه هڅه یې هم په نېک پال نیولو ارزي او د بلخ والي عطا محمد نور په دې برخه کې د منني وړ دی.

خو د دغه کار په پیلولو کې له ټولو زیات د شمال د خلکو د عنعنوي اصلاحي جرګې د مشر حاجي عبدالستار اسحق زي او د بلخ ولایت قومي مشر اختر محمد ابراهیمخېل هڅې د ځانګړې ستاینې وړ دي.

د یاد ځلی د جوړېدو چارې که څه هم د بېلا بېلو لاملونو له امله یو څه ټکنی شوې؛ خو د ۱۳۹۵المریز په وري میاشت کې بشپړې او د یوې ستري غونډې په ترسره کولو پرانیستل شوو.

د ځلي په جوړېدو کې د شمال د خلکو عنعنوي اصلاحي جرګې په هڅو ګڼو خلکو مالي مرسته کړې وه؛ خو د مومند بابا ځلي د جوړېدو د لګښت دروند پېټي ته د ښاغلي جمعه خان همدرد زوی ګل الرحمان همدرد اوږه ورکړه او دغه ویاړلي چاره یې سرته ورسوله.

که دولت ورته چارې تر سره کوي؛ نو باید ویې کړي، ځکه چې دنده یې ده. ولس پرې حق لري؛ خو کله چې ځینې مشران د خپلو هر اړخیزو هڅو پر مټ دولت دې ته چمتو کوي، چې د وزیر محمد ګل خان په څېر ملي شخصیت په نامه یو څلور لارې ونوموي او یو ځوان د دغه کار د

بشپړېدو لپاره ځان سترې کوي؛ نو بيا د دې تمه پيدا کېږي، چې ولس وينې شوی او د پرمختګ پر لور ګامونه مو ګړندي شوي دي.

د تېرو څو لسيزو جګړو او ناخوالو له امله د هېواد نظر نورو سيمو ته د شمالي ولايتونو اوسېدونکي د هراړخيز لرېوالي ښکار شوي وو، چې له امله يې د سياسي کړيو د لرې والي تر څنګ د عامو خلکو تر منځ هم يو څه واټن زيات شوی غوندې و. د کرکو دغه ماښامی همداسې ځراغونو ته اړتيا لري، چې تياري وتښتوي او د هېواد په شمال کې د ميشتو افغانانو په زړونو کې يو بل ته د مينې رڼاګانې ځای پر ځای کړي. د وزير بابا په نامه د بلخ ولسوالۍ د څلور لارې نومولو ارزښت يوازې په دې کې نه دی، چې کواکې د يو ملي افغان شخصيت د نوم د ژوندي ساتلو هڅه ده، بلکې ورته کړنې او چارې به په هېواد کې د ميشتو افغانانو په زړونو کې د کرکو ځای مينې ته پرېږدي او ولس به د يووالي او يو پر بل د باور پر لور روان کړي.

اخيستنې:

- احساس ذبيح الله- د بلخ ولسوالۍ څلور لارې د وزير محمد ګل خان مومند په نامه ونومول شو- پژواک خبري اژانس- د سلواغې ۲۷مه، ۱۳۹۰المريز
- ربنتين صديق الله- محمد ګل مومند- هېواد ورځپاڼه- د وږي ۱۹مه، ۱۳۲۹المريز
- رشاد عبدالشکور- د قام غمخور محمد ګل خان مومند- ستر پښتون ۱۳-۳۰ مخونه

- محمد عمر خان - د وزیربابا تربور- مرکه- د لیکوال یادښتونه

د پسرلی مجلې د اتم خپرنيز کال د پيل په پلمه:

# په شمال کې لس کلنه فرهنګي مبارزه

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۳۳ او ۳۴مه ګڼه/۱۳۹۱المريز

د يو سپېڅلي هوډ پاللو کې ايله زلمی شوم !

هغه وخت مو اوس هم ياد دی، چې اووه کاله وړاندې مو په خړ کاغذ کې د پسرلي په نامه دولس مخيزه مهالنۍ خپرونه (۱۳۸۴المريز) له شماله پيل کړه. له شماله د خپرېدونکې پرخې ادبي او ټولنيزې مجلې (۱۳۸۲المريز) پسې دا دويمه پښتو خپرونه وه، چې له دغې مجلې څخه يې دوه کاله وروسته په خپرونو پيل وکړ. موږ دا سې نه انګېرله، چې د شمال زون په ګډوډ سياسي چاپيريال کې دې يو کال وروسته دغه دولس مخيزه مهالنۍ په درې مياشتنۍ مجله واوړي او بيا دې درې کاله وروسته د دوه مياشتنۍ مجلې بڼه غوره کړي؛ خو دغه ډول هڅو ته په شمال او په ځانګړې توګه په بلخ ولايت کې د پښتو ژبې د پاللو او ودې روان بهير اړتيا لرله. د دغه بهير لارويان مجبور وو، چې د ورځې د خپلې غريبۍ د ګټلو له وخت څخه خپلې رواني مبارزې ته شپې وباسي او ډېرې شپې د همدې مبارزې په تړس کې رڼې تېرې کړي.

هغه سيمه، چې نه يې په ښوونځي او نه يې په پوهنتون کې د هېواد ملي ژبې سره څوک اشنا و، نه د کاغذ پر مخ موندل کېده او نه هم د تلويزون په پرده چا اورېده؛ نو پر ځان مو دا باور نه و، چې د پښتو ژبې په داسې چاپيريال کې دې، دې تړو حالاتو ته په لړزانده لپو کې د غرېپ اوبو ورکولو جوګه شوو.

خو له نيکه مرغه اوس نو تر ډېره هغه ارمانونه، ارمانونه نه دي پاتې، چې يو وخت يې کوم شماليوال تصور هم نشو کولی.

پسرلی مجله، په شمال کې د رواني فکري مبارزې د يوې برخې او د هېواد د خپرنيزې لړۍ د يوې کړۍ په څېر له شماله د سياسي مجلې په توګه اووم کال بشپړ کړ. په دغه ترڅ کې يې په بلخ ولايت کې د پښتو ژبې د پالنې او ودې د روان خوځښت (بلخ ادبي خوځښت-۱۳۸۷المريز) ډېر ياران د ليکلو په برخه کې په علمي توګه وپالل. د هېواد د روانو سياسي حالاتو په شننه کې يې دمه ونه کړه، د لوی کاله په اړه د رواني مبارزې نغری يې لا هم تود ساتلی، د ګاونډيو ملکونو په ځانګړې توګه د پاکستان او ايران د لاسوهنو د بربنډېدو په لاره کې يې پلونه ټکني نه شول او شکر دی د اووم کال په بشپړېدو د دغې مبارزې د ژوندي ساتلو سوګند يو ځل بيا تازه کوي.

په بلخ ولايت کې پښتو ژبې او افغان کلتور د ودې روانه فکري او علمي مبارزه د تېرو کلونو په څېر د دغه ولايت تر مرکز- مزارشريف ښار پورې لنډه پاتې نه شوه.

د بلخ ادبي خوځښت په چوکاټ کې په مزاشریف کې د مومند بابا ادبي بهير (۱۳۸۴لمريز) سرببره د دغه ولايت په بلخ او چاربولک ولسواليو کې د ام البلاد (۱۳۸۲لمريز) او چاربولک (۱۳۹۲لمريز) په نامه د ځوانانو د ادبي او فکري روزنې بهيرونه جوړل شول.

د بلخ ولسوالۍ ام البلاد ادبي بهير د پل په نامه مهالنۍ پښتو خپرونه (۱۳۹۱لمريز) هم چاپوي.

د ځوانانو تر څنګ اوس پښتنې نجونې هم د بلخ ادبي خوځښت په دايره کې د خپلې ژبې د پاللو په روانه مبارزه کې د خپلو ورونو تر څنګ د ((مېرمن کلتوري او ټولنيز بهير- ۱۳۸۷لمريز)) په چوکاټ کې اوږه په اوږه کار کوي.

خوځښت، ځوانانو ته د پښتو ليکلو په برخه کې د ((پښتو ژبې د ليکلو د ارونو لړۍ- ۱۳۹۰لمريز)) له لارې د دغه ولايت نږدې ۲۰ ځوانان په پښتو ليکلو، د ليکوالۍ تر کچې اشنا کړل، چې په ترڅ کې يې د څلويښتو کتابونو د ژباړې لړۍ هم پيل کړه، چې ۲۰سلنه پر مخ تللې ده.

همداراز د خوځښت په مرکزي دفتر کې د خوشال بابا په نامه د عامه کتابتون (۱۳۹۱لمريز) پرانيستل، چې د څلور زره ټوکو پښتو کتابونو په لرلو يې په بلخ ولايت کې د پښتو کتابونو تشه تر يو ځايه ډکه کړه. خوځښت د هر کال په اوږدو کې د علمي سمينارونو تر څنګ، د هر نوي کال د جشن په شور کې د ((په خوشال باندې دې قدر دی نوروزه!)) تر سرليک لاندې ستره مشاعره او د کوچني اختر په وياړ

سندریزه مشاعره، چې له کابله پکې د کابل مېشتو فرهنګیانو په مرسته یو پښتون سندرغاړی هم کله ناکله کنسرت ته بلل کېږي، جوړوي.

له نېکه مرغه په بلخ ولایت کې روانه فرهنګي مبارزه له ځانه سره د ځوانانو د ستړي کار تر څنګ د سیمې د مشرانو ملاتړ هم لري. بلخ ادبي خوځښت د شمال د خلکو عنعنوي اصلاحي جرګې (۱۳۸۳المریز) د فرهنګي څانګې په توګه د یادې جرګې د غړو او په ځانګړې توګه د مشرتابه له لاسنیوي څخه برخمنه ده، چې د هرې کړنې په اوږدو کې یې یوازې نه دي پرې اېښې. دغه جرګه د شمال د لومړۍ پښتو مجلې (پرخې) د امتیاز ویاړ لري، چې د چلولو ویاړ یې له پیله تر دې دمه د بلخ ادبي خوځښت له ځوانانو سره دی.

د بلخ ادبي خوځښت تر څنګ په بلخ کې نورې خواوې هم په مستقیم او غیر مستقیمه توګه، پښتو ژبې ته د ودې ورکولو په برخه کې هڅې کوي.

په بلخ پوهنتون کې د پښتو څانګې فعالېدل او په وروستیو کلونو کې وده ورکول، له ټولو ستره لاس ته راوړنه ده. همداراز د دغه پوهنتون د تربیه معلم د پښتو څانګې د استادانو او محصلینو لخوا د سیال په نامه د پښتو مهالنۍ خپرونې چاپېدل او د نوي کال په جشن کې د بلخ ولایت مقام د تخنیکي څانګې له خوا د پښتو او دري ژبو ګډه کلنۍ مشاعره جوړېدل د پښتو ادبي د پراختیا په برخه کې د یاد وړ هڅې دي.

همداراز په چمتال ولسوالۍ کې د چمتال ادبي بهير په نامه د دغې ولسوالۍ د يو شمېر ځوانانو ادبي هلې ځلې، په مزارشريف کې د يو شمېر ځوانانو لخوا د ډيوې په نامه د فرهنګي ټولنې جوړېدل، چې يو لړ علمي چارې تر سره کوي، په بلخ ولايت کې د پښتو ژبې د ادب او فرهنګ په برخه کې د ياد وړ فعاليتونو کې شمېرل کېږي.

په شمال کې روانه فرهنګي مبارزه يوازې تر بلخ ولايته رالنډه نه ده، بلکې په کندوز او بغلان ولايتونو کې هم زيات شمېر افغان ځوانانو د ټولنو په چوکاټ کې د خپلې ژبې د پاللو مبارزه روانه ساتلې ده.

د دغو ولايتونو په پوهنتونو کې د پښتو څانګو فعاليدل ستره لاس ته راوړنه ده؛ خو تر څنګ يې د افغان ځوانانو ازاد ادبي او فرهنګي فعاليتونو د پښتو ژبې پاللو ته نوی رنګ ورکړی دی.

په کندوز کې د پسرلي په نامه ادبي او کلتوري ټولنې (۱۳۸۴المريز) له تېرو اتو کلونو په ډېرو سختو حالاتو کې خپله مبارزه ژوندۍ ساتلې ده. دغه ټولنه د ولايت په مرکز کې اوونيزې ادبي ناستې کوي، چې پکې د دوديزې مشاعرې تر څنګ په بېلا بېلو ادبي ژانرونو ښوونيز بحث هم کېږي.

پسرلی ټولنه له جوړېدو سره سم هر کال د ريدي ګل په نامه دوديزه کلنۍ مشاعره جوړوي، چې د هېواد له بېلا بېلو ولايتونو څخه پکې فرهنګيان برخه اخلي.

دغې ټولنې، د کندوز ولایت په امام صیب، چاردره او خان اباد ولسوالیو کې د ځوانانو په مرسته ادبي بهیرونه جوړ کړي دي.

پسرلی ټولنې، په پښتو ژبې د لیکلو په برخه کې ښوونیزه لړۍ هم تر سره کړې، چې د یاد ولایت څه باندې ۳۰ ځوانان پکې د پښتو ژبې د لیکلو له ارونو سره اشنا شول. د دغې ټولنې ځوانانو د خپل هراړخیز ملاتړ او مالي لاسنیوي له لارې د کندوز پوهنتون د ښوونې او روزنې د پښتو څانګې لپاره د ((څاښت)) په نامه پښتو خپرونه هم پیل کړې ده. همداراز پسرلی ټولنه په پلان کې لري، چې په نږدې موده کې پښتو مجله پیل او یو کتابتون پرانیزي.

په کندوز ولایت کې د پسرلی ادبي او کلتوري ټولنې د ښکاره فعالیتونو تر څنګ یو شمېر ځوانان د سنځلې په نامه مهالنۍ پښتو مجله چاپوي. همداراز په دغه ولایت کې د پرد ښس په نامه ادبي ټولنه هم فعالیت کوي.

په بغلان کې د چونغر او امېرکروړ ادبي بهیرونو هڅې، چې اوونیزې ادبي ناستې کوي، له چا پټې نه دي. په پلخمري ښار کې د چونغر ادبي بهیر لخوا د تک په نامه پښتو مهالنۍ خپرونه هم چاپېږي. د بغلان ولایت په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې د بغلان ادبي بهیر (۱۳۸۳المریز) او د دغه بهیر له خوا د یو کتابتون د جوړېدو یادونه هم اړینه ده؛ خو په دې وروستیو کې یې د بېلا بېلو لاملونو له امله هڅې ولاړې دي.

همدارازد شمال زون په تخار، جوزجان او فارياب ولايتونو کې هم يو شمېر ځوانان فرهنګي او ادبي هلې ځلې کوي، چې لا يې منظمه بڼه نه ده غوره کړې.

په شمال کې دغه روانه فرهنګي مبارزه د دولتي ملاتړ تر څنګ، د هېواد د هرې څنډې د هر ځوان، مشر، بنسټ او د هرې ټولنې له هراړخيز ملاتړ څخه پرته د خپل منزل په لور تګ کې ځان يوازې احساسوي. هيله ده، چې د خپل لوی وطن د ساتنې په موخه د شمال روانه فرهنګي مبارزه ټکنيتوب ته پرې نږدو.

موږ سوګند کوو ! چې لا به هم دغه مبارزه د شپو په رڼولو ژوندۍ ساتوو، د دغې سيمې په بدرنګو سياسي حالاتو کې به د پسرلي په غېږ کې زړور او مبارز ځوانان لټوو، پيدا کوو او پالو، چې د افغان رښتيني برم د هر اړخ تصوير پکې و موندل شي.

تر يو ځايه حق لري، چې د شمال زون له خپلو ټولو دولتي او امنيتي کړيو مننه وکړو، چې له امله يې موږ ته لږ تر لږه د خپل فرهنګ او ژبې د ودې او ساتنې زمينه تر دې دمه برابره شوې ده؛ خو هيله کوو، چې په هېواد او په ځانګړې توګه د هېواد په شمال کې د شته بدرنګيو په له منځه وړلو کې خپلې هڅې لا پسې ګړندۍ کړي او د دې هېواد د رښتينو مشرانو په خبر د هر ډول فساد له لومې ځان لرې وساتي.

په پای کې پسرلی مجله، تر اتم کاله د خپلې خپرنيزې لړۍ په رسېدو کې له ټولو ملګرو ليکوالو مننه کوي، چې زموږ هر ناز يې اخيستی.

په لنډ تنګ وخت کې يې هم منفي ځواب نه دی راکړئ؛ لا هم د ملګرو د همدا سې ملګرتيا په تمه يوو.

که تاسو پوهېږئ، چې کوم پل راځيني کوږ شوی او د حالاتو پيچ وخم مو د ګړنګ په لوري بيايي؛ نو غږ راباندې وکړئ، له لاسه مو ونيسئ، چې بېسره او بېلارې نه شوو.

د يو سپېڅلي هوډ پاللو کې ايله زلمی شوم
مورې دعا کوه بېلارې او بېسره نه شم

پارلماني ټاکنې:

# شمال د امنیت او نا امنۍ تر منځ

خپره شوې: پسرلی مجله/ پرله پسې ۳۵ او ۳۶مه ګڼه/ ۱۳۹۲المریز

په هېواد کې پارلماني ټاکنې پای ته رسېدلې وې، بلکې نتیجې یې هم اعلان شوې وې؛ خو لا یې هم په رسنیو کې ناندرۍ روانې وې. د هېواد په نورو برخو کې دغو نندار یو بېلا بېل اړخونه لرل؛ خو په شمال کې د سیاسي معاملو تر څنګ د ټولنیزو مجبوریتونو او محرومیتونو له امله هم د ټاکنو پایلې د ځینو سیمو د اوسېدونکو د غوښتنو خلاف وې.

هغه اړخونه ډېرو ته جوت شول، چې پښتون میشتې سیمې په لوی لاس ناامنه کړای شوې، چې پښتانه رایه ونه کارولی شي او په پارلمان کې د مهبواد له شماله د پښتنو وکیلانو شتون باید غوښن نه وي. په همدې موضوع د یو تحقیقي راپور په لټه کې شوم.

د راپور د پیل سره سم راته ځینې لاملونه له ورایه ښکاره و، چې په پښتون میشتو سیمو کې طالبان حاکم دي او خلک په ټاکنو کې ګډون ته نه پرېږدي؛ خو ایا له مرمیو ډکې ټوپکې چې په کومو وږو ګرځي دا وږې یوازې د هماغه طالبانو دي، چې د پاکستان لخوا یې د دې هېواد د ناارامۍ قسم کړی او که نه؛ د بدرنګۍ دغه چارې په شمال کې نور اړخونه هم لري.

داسې اوازې هم وې، چې ځينو سياسي کړيو چې جنګي مخينه يې هم لرله په لوی لاس د پښتنو يا د هغو سيمو د ناامنه کولو لپاره منظم پلانونه عملي کړل، چې د دوی سيالان پکې ولاړ وو. زما د راپور بشپړېدو ته همدا اړخ مهم و.

د راپور د معلوماتو د راټولو په اوږدو کې له داسې يوې سرچينې سره مخ شوم، چې د ټاکنو په ورځ د حالاتو په کړکېچن کېدو کې يې برخه لرله. دغه ځوان د شمال د يوې ولسوالۍ د لرې کلي اوسېدونکی و، چې دولت ورته د ناامنيو له امله هغه ډول پام نه و کړی، لکه څومره چې يې شاوخوا نورو ولسواليو ته کړی و.

د ځوان په کلي کې روزګار نه و. د کلي ماشومان او زلمکيان له لوست او ښوونځي څخه تر ډېره بې خبره و. په يو نيم ځای کې، چې د ښوونځي دروازې پرانيستې پاتې وې، نو د زده کوونکو تګ راتګ ورته د ماشومانو د ساتېرۍ په مانا و.

د ځوان له خړو جامو، پېرې خبرن واسکټ او د خولو د کرښو لرونکې سپينې خولۍ څخه له ورايه بربښېده، چې حالاتو د ګناه کولو تر حده مجبور کړی او دی هم دومره کمزوری او د ټيټ هوډ لرونکی انسان دی، چې د ژوند د هرې ورې ستونزې پر وړاندې سلامي دربېږي. د يوې مړۍ ډوډۍ لپاره د دې وطن د غدار په ستر جال کې په اسانه بندېږي، چې يوازې په نامه ژوندی پاتې شي.

ځوان راته وويل، چې نه پاکستان ته تللی او نه يې د پاکستان په مدرسو کې زده کړې کړې دي. تر دې چې چورلټ بې سواده و؛ خو دا

يې ويل، چې په سيمه کې د وسلوالو طالبانو په جامه کې د ده په څېر ځوانان ډېر دي، چې د ټاکنو د ورځ د ناامنه کولو پوره هڅې کوي.

د ځوان له دې خبرو سره د ټاکنو د ورځې په اوږدو کې د شمال د ځينو کانديدانو خبرې رايادې شوې، چې بار بار يې له رسنيو سره کولې، چې د دوی سيمې د ځانګړو کړيو له لوري د وسلوالو طالبانو د هڅو سره موازي په لوی لاس ناامنه کړای شوې، په دې موخه چې بايد رقيب ترې ميدان وګټي.

ځوان راته د سيمې د داسې نيمه سياسي اشخاصو نښې وويلې، چې پخوانۍ جنګي مخينه لري، چې له لوري يې د دوی په سيمه کې له وسلوالو طالبانو سره موازي وسلوالې ډلې جوړې شوې دي. د پيسو په بدل کې د ټاکنو په ورځ هڅې کوي، چې د سيمې اوسېدونکو ته د ټاکنو او دولت د نورو کړنو په خلاف تبليغ وکړي، ويې ډار کړي او که نه؛ نو ويې وژني؛ خو بايد خلک په ټاکنو کې برخې اخيستو ته پرې نه ږدي.

ځوان وويل، چې د همدې ډلې يو سرلاري ټوپکوال سره بلد شو او د لس زره افغانيو لپاره يې د ټاکنو په ورځ د سيمې د ناامنه کولو په بدل کې مزدوري کړې ده.

ځوان، د خپل ژوند اقتصادي مجبوريتونه او بې روزګاري د دې لامل ګڼل، چې ګواکې دی له همدې مجبوريته د سيمې د خلکو په خلاف ټوپک اخيستو ته مجبور شوی دی، چې د غه دليلونه ورسره د منلو وړ نه وو.

خو زما اشاره دې اړخ ته ده، چې لا هم پر وطن د ټوپک سيوري خور دی او د مايک له لارې د ناکامۍ په صورت کې هر بدرنګ سياستوال ټوپک ته لاس اچوي. د وطن په نورو څنډو کې به هم دغه ډول نادودې وي؛ خو زه د ګران وطن د شمال خبره کوم.

په راتلونکو ټاکنو کې د وسلوالو طالبانو وېره تر ډېره کمه ده. هغه سيمې، چې د تېرو ټاکنو په درشل کې د نا امنۍ ښکار شوې، د اوسنيو ټاکنو په درشل کې په امن کې دي. د سيمه ايزو خلکو پوهه لوړه شوې او تر ډېره د ټاکنو په اهميت پوه دي. په ځينو سيمو کې د سيمه ايزو پوليسو جوړښتونو هم د امنيت په راوستو کې ښه اغېز کړی؛ خو لا هم دې ته اړتيا ده، چې د ولس ملاتړ وشي او د احتمالي وسلوالو ګواښونو د نه کېدو ډاډ ورکړل شي.

په شمال کې د شته نا امنۍ ګواښ پښتنو ته نه، بلکې د دغې سيمې هر عام وګړي ته دی. دلته د پخوانيو جنګي ډلو پاتې شوني بدرنګ سياستمداران يوازې تر خپلو ګټو ځان رسول غواړي. دوی له تعليمه بې برخې دي او د ولايتي شورا او ولسي جرګې انګړونه يوازيني هغه بسترونه دي، چې له لارې يې خپلې شخصي ګټې خوندي کولی شي؛ دوی نه پرېږدي، چې په هېڅ قوم کې داسې ککرۍ يا لاره پيدا شي، چې د دوی ګټې تر ګواښ لاندې راولي.

په ټوله کې همدا ډول هڅې په شمال کې د قومونو د لرې والي لامل ګرځي. سياسي ډلې ټپلې هڅه کوي، چې افغان ملت د قوم او ژبې په نامه سره بېل کړي او له بېلوالي څخه يې دوی ګټه واخلي.

ځومره چې د وسلوالو طالبانو وسلوالې هڅې په شمال کې کمرنګه کېږي، هومره ورسره د سياسي وسلوالو ډلو ټپلو بدرنګه سياسي هڅې په ټپه درېږي. ځکه چې د سياسي ډلو ټپلو ډېری فعاليتونه د وسلوالو طالبانو تر سيوري لاندې روان وي؛ نو که چېرې امنيتي مسوولين په شمال کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او وسلوال طالب ته د خوربدو لار پرې نه ږدي؛ نو لرې نه ده، چې د تېرو ټاکنو په پرتله به په راتلونکو ټاکنو کې حالت او د خلکو برخه اخيستنه خورا غوښنه وي. کنه راتلونکې ټاکنې به هم په شمال کې د تېرو ټاکنو له برخليک سره مخ شي، چې د مشخصو اشخاصو په ګټه تمامې شوې او ولس به يو ځل بيا پر ټاکنو خپل باور له لاسه ورکړي.

که څه هم د ټاکنو د کارتونو د وېش پروسه تر ډېره ښه تېره شوه او د دغې سيمې د هرې خوا اوسېدونکو تر ډېره کارتونه تر لاسه کړل؛ خو بيا هم ولس د تېرو ټاکنو د تجربو له مخې په شمال کې د راتلونکو ټاکنو برخليک د امنيت او ناامنۍ تر منځ وينې.

# په شمال کې د نړيوالې ترهګرۍ نوې لوبه

خپره شوې: تاند ويبپاڼه/ د جنورۍ ۱۲مه، ۲۰۱۵ز/۱۳۹۴المريز

د امريکا د سيمه ايز جګړيز لوري او تګلارې بدلون، د افغانستان د روانو حالاتو په اړه د روسيې د لوړپوړو چارواکو اندېښنې او په شمال کې د جندالله د ډلې (د ازبکستان اسلامي تحريک) پراخ نفوذ په دغه هېواد کې د جګړې د نوې څپې د برېښېدو نښې له ځانه سره لري.
داسې ګومان کېږي، چې دا ځل په هېواد کې د نويو بدلونونو په نظر کې نيولو سره د وسلوال طالب په نامه د جګړې سمبول له منځه تلونکی دی.
داعش، چې په نږدې راتلونکي کې به په نړيواله کچه د ترهګرۍ نوی تصور وي، افغانستان يې پر منځنۍ اسيا د فشار لپاره د خپل بستر په توګه غوره کړی دی.
دا ځل نښې داسې برېښي، چې د هېواد د نوور ځنډو په پرتله به د نړيوالې ترهګرۍ د جګړې تنيسته د دغه هېواد له شماله پيل شي، چې همدا سيمه به د داعش لپاره د منځنۍ اسيا د ګواښني سنګر وي.
منځنۍ اسيا په اقتصادي لحاظ د امريکا متحده ايالاتو، روسيې او چين په ګډون د نړيوالو قدرتونو تر منځ د سيالۍ ډګر دی. هر څوک هڅه کوي، چې د دغې سيمې نړيوال بازار يې تر سيوري لاندې وي.
ښکاره ده، چې له کلونو کلونو دلته په اقتصادي لحاظ غبږې نيول

شوي؛ خو دم ګړۍ په نړۍ کې د ځواک ښودنې لپاره له ټولو ښه اله ترهګري ده.
روسیه؛ چې په جغرافیایي لحاظ د منځنۍ اسیا واکداره بلل کېږي، لوړپوړو چارواکو یې، په افغانستان کې د ناټو جګړه له همدې امله ناکامه وبلله، چې خپلې هراړخیزې ګټې له ګواښ سره ویني. دغه هېواد په دې پوهېږي، چې د ازبکستان د اسلامي تحریک په نامه وسلوالې ترهګرې ډلې لپاره منځنۍ اسیا ته په نږدې سیمو کې د افغانستان شمال له ټولو ښه بستر کېدای شي. د ناټو شتون، په سمبولیکه توګه د دغه ډول هڅو لپاره ګواښ و؛ خو نشتوالی یې د دې بستر له جوړېدو سره مرسته بللی شوو، چې روسیه همدې مسلې اندېښمنه کړې ده.
په افغانستان کې وروستي بدلونونه که څه هم په ښکاره د دغه هېواد د کورنیو مسایلو یو اړخ ښکاري؛ خو په ټوله کې په افغانستان کې د امریکا او نړیوالو د اړخ بدلولو کیسې له ځانه سره لري. د ولسمشریزو ټاکنو له ناندریو د محمد اشرف غني د کابینې د ځنډېدو تر مسلې پورې ډېرې مسایل په دغه هېواد کې د نوې لوبې د پیل اوازونه کوي.
د شمال په بېلا بېلو ولایتونو کې د منځنۍ اسیا د ښکېلو ترهګرو پراخ نفوذ په هېواد کې جګړې ته د همدې نوي اړخ ورکولو ښکارونديي کوي. د شمال هغه ولایتونه، چې لا هم پکې ژوند په کلیواله کچه روان دی، د ترهګرو نفوذ پکې په نوې بڼه رامنځ کېږي.
د شمال زون امنیتي مسوولین مني، چې د سرپل ولایت په کوهستانات ولسوالۍ کې د ازبکستان د طالبانو سره تړاو لرونکې له

شلو زیاتې کورنۍ ځای پر ځای شوي دي. د دغو کورنیو نر او ښځې په شمال کې د ناامنۍ په پیدا کېدو کې لاس او پښې وهي، زیات شمېر ښځې یې د ماین جوړولو هنر لري. ښځې په کورونو کې ماینونه جوړوي او سړي یې په لارو کوڅو کې خښوي.

همدا راز د فاریاب په قیصار ولسوالۍ کې محلي پولیسو لسګونه نړیوال ترهګر لیدلي، چې ډېری نښې یې د ازبکستان د اسلامي تحریک طالبانو ته پاتې کېږي.

د شمال زون په کندوز، فاریاب، سرپل او بغلان ولایتونو کې د پاکستاني طالبانو تر څنګ د عربو، چیچین او ازبکستاني طالبانو اډې د جوړېدو په حال کې دي، چې د یادو سیمو د ناامنه کېدو له لارې په منځنۍ اسیا باندې د فشار په توګه کارول کېږي.

که څه هم په شمال کې افغان ځواکونه د نوې جګړې د پیل د مخنیوي لپاره د هڅو خبر ورکوي؛ خو د دغه پیل د بستر جوړېدنې لپاره څو کاله مخکې کار شوی، چې اوس به یې رام کول نویو تدبیرونو ته اړتیا ولري.

اندېښنه دا نه ده، چې ملا عمر مجاهد اوس د امریکا لپاره دښمن نه دی؛ خو د دې وېره شته، چې وسلوال طالب لونګۍ وغورځوي، ږیره لنډه کړي او له نیکتایي پرته دریشي سره د اوسني نظام برخه شي. دغه به نو هغه مهال وي، چې وسلوال طالبان، سیاستوال طالبان وي او د امریکا په ګډون د نړیوالو ګټو د خوندیتوب خبرې به کوي.

که داسې وي، نو روانه جګړه، چې لا هم ورته په افغانستان کې امریکا اړتیا لري، څوک پر مخ وړي !؟ شک نشته، چې جګړه به روانه وي، خو تصویر به یې د تېرې دیارلس کلنې جګړې سره توپیر ولري.
د افغانستان د نورو څنډو پر ځای به شمال د جګړې مرکز شي، د وزیرستان او سپدونکي به د بدخشان له لارې، چین سره په څنګ کې د ازبکستاني طالبانو د اسلامي تحریک ملاتړي شي او د جګړې د رهبریت نوم به له القاعدې په داعش واوړي.

# شمال:

د نړیوال تروریزم که د کورني قومندان تر ګواښ لاندې
خپره شوې: لوی افغانستان اوونیزه/ د غبرګولي ۲۰مه، ۱۳۹۴المریز

د دغې اوازې د منلو تحلیل خوار ستونزمن دی، چې له تېرو دوو کلونو په پرله پسې توګه په نړیواله کچه د افغانستان له شمال څخه، منځنۍ اسیا ته د جګړې د انتقال د دروازې په توګه د کارول کېدو جدي هڅې رواني دي.

که په ډراماتیکه توګه په شمال کې د داعش د منسوبینو پیدا کېدو ته تم شو یا د دغه زون په ځینو ولایتونو کې له تېرو دوه درې کلونو د ازبک، چیچیني، پنجابي او عربي افرادګرو جنګیالیو له خپلو کورنیو سره میشتېدنه د جګړې د نړیوال تروریزم اړخ وګڼو؛ نو په کورنۍ کچه د شمال زورواکي د دغه زون د کمزوري کېدو ستر لاملونه دي.

د شمال د ډلیزو قومي جوړښتونو لرونکو سیمو کې د زورواکو تر اغېز لاندې د سیمه ایزو پولیسو جوړښتونو هم د هېواد شمال له نوي جګړیز ګواښ سره مخ کړی دی.

همدا راز له ۲۰۱۴ز، څخه وروسته د هېواد سیاسي حالت د بدلېدو له امله د ځینو پخوانیو قومندانانو لخوا خپلو لوریو ته د غیرقانوني وسلو وېش؛ په شمال کې د نویو لوبو د پیل ښکارندویې کوي.

د هېواد شمال پورې اړوند ډېرى سياسي کړۍ او شخصيتونه د خپل راتلونکي د ساتنې په موخه يو ځل بيا د ولس سيوري ته په پوره چلبازۍ د ځان د ورننږدې کېدو په هڅو کې دي.

دوى دوه لارې نيولې:

له ولس سره مدني ناستې او د خپلې پخوانۍ جنګي تجربې پر بنسټ د پخوانيو جنګونو پاتې شوني وزګار خېل بېرته راخپلول.

له ۲۰۱۴ز، څخه وروسته په افغانستان کې د بهرنيو د نظامي شتون کم رنګۍ ځينې جګړيزې امنيتي تشې پيدا کړې. له نړيوالي کړکۍ د ترويزم نوې طرحې(داعش) افغانستان ته لاره وکړه. طالبان ورځ تر بلې په کمزورې اړخ بدل شول او پخواني جنګي زورواکي، چې ځينې اوس سياسي او سوداګريزې مهمې څېرې دي، د ځان ساتنې تبې ونيول.

دغه زورواکي د شمال زون په ډېرى سيمو کې له ځانه سره د سيمه ايزو پوليسو غيرمستقيم تړاو لري او له تېر يو کال څخه د امنيتي ځواکونو د ملاتړ په پلمه د غير قانوني وسلو د وېش اوازې يې هم ګرمې شوې دي.

په افغانستان کې د سيمه ايزو پوليسو چوکاټ که څه هم په هغو سيمو کې، چې قومي جوړښتونه پکې کم وو، د دولت د وسلوالو مخالفينو پر وړاندې په زورور او پايله لرونکي سنګر بدل شول؛ خو د شمال په څېر په هغو سيمو کې چې د ولسواليو په کچه پکې قومي جوړښتونه خورا ډېر دي؛ د سيمه ايزو پوليسو جوړښتونو پکې د

ګټې پر ځای تاوان ډېر وکړ... یقیني ده، چې د شمال په ځینو سیمو کې هم د وسلوالو طالبانو پر وړاندې ښه کارول شوي وي؛ خو په ځینو لوریو کې په داسې ناوړه چارو اخته شول، چې په ولسي کچه یې له وسلوالو طالبانو ډېر زیانونه واړول.

د شمال په ځینو ولایتونو، لکه فاریاب، سرپل، کندوز، بغلان او... کې سیمه ایز پولیس په جنسي تېریو، غلاوو، د خلکو په برمته کولو، لار شکونې او ځینو نورو ناوړه چارو تورن شول.

د نړیوالو بحرانونو د ډلې لخوا د ۲۰۱۵ د جون په ۴مه، د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو په اړه یو راپور خپور شو. دغه راپور کې راغلي، چې د امریکا د خاصو ځواکونو هغو ډلو، چې په ۲۰۱۱ز، کې یې افغان سیمه ایز پولیس ښارل، په سلو کې ۲۰ سیمه ایز پولیس په سرغړونو او تشدد او ۱۲سلنه د پیسو په اخیستلو لیدلي دي.

دوی دغه راز ویلي، چې دا ځواکونه په درغلۍ، غلا، جنسي تېري، د مخدرو موادو په کاروبار، د خپلو وسلو په خرڅولو یا په کرایه ورکولو او نورو جرمونو هم تورن دي.

د بحرانونو نړیواله ډله وایي، د فاریاب په شمال کې د سیمه ایزو پولیسو یوه قطعه په جنسي تېري، لوټ او تشدد تورنه شوه.

د ملګروملتو د راپور له مخې په ۲۰۱۴ز، کې د سیمه ایزو پولیسو له لوري ۵۳ تنه ملکیان وژل شوي، چې د ۲۰۱۳ز، په پرتله د دغه ډول وژنو سلنه درې برابره زیاته ده.

د شمال زون په همدغو سيمو کې سيمه ايز پوليس د ولس له خوښې ډېر، د سيمه ايزو سياسي او جنګي زورواکو تر اغېز لاندې وټاکل شول. اوس همدې سيستم شمال يو ځل بيا د پخوانيو زورواکو تر غير مستقيمې ولکې لاندې راوستی دی.

د شمال ډېری پخواني قومندانان، چې ځينې په سياسي او سوداګريزو چوکاټونه کې ځای پر ځای شوي وو او ځينې په تېرو لسو کلونو کې لا هم په بې وسلې زورواکی باندې د سيمه ايزو مخورو په نامه ژوندي وو؛ شمال ته د جګړې د لېږد وروستيو اوازو اندېښمن کړي دي.

دغه خلک دا ځل د جهاد د سپېڅلي کليمې زور له ځانه سره نه لري، بلکې مجبور دي، چې د خپل اقتصادي او سياسي ځواک د ساتنې په موخه شته ننګونو ته له پخوانيو جنګی هغو جوړښتونو چې له روس سره او په ځانګړې توګه د مجاهدينو د حکومت پر مهال يې په خپلمنځي جګړو کې ترې کار اخيستي و، بېرته وګرځي. په همدې موخه د سياسي او ځينو جنګي شخصيتونو له لوري په سيمه ايزه کچه د ځينو مدني ناستو او راشه درشو جوړښتونه تر سترګو کېږي او تر څنګ يې د پخوانيو وسلوالو قومندانانو له لوري په کليوالي کچه د وسلو د وېش نامريي لړۍ پيل شوې ده.

د شمال زون د ځينو ولايتونو امنيه قومندانيو ته پخواني جنګي سرګروپان ورغلي او د داعش او طالب پر وړاندې يې د امنيتي ځواکونو د وسلوال ملاتړ لپاره ملا ورډېبولې ده. په ښکاره ښېک

احساس دی؛ خو دغه ملاتړ د یو ښوونځي د زده کوونکو له ملاتړه، چې له امنیتي ځواکونو څخه یې کوي؛ خورا توپیر لري. د ښوونځي زده کوونکي په معنوي توګه خپلو ځواکونو ته حوصله ورکوي؛ خو د پخوانیو قومندانانو، وسلوال ملاتړ لا هم په سیمه کې د دوی د غیر قانوني وسلوال ځواک وېره له ځانه سره لري، چې ممکن د وخت په تېرېدو له داعش او وسلوال طالب څخه حکومت ته که ډېر سردردی جوړ نه کړي؛ نو کم به هم نه وي.

حکومت باید د دوی پر وړاندې هغه سهوه ونه کړي، لکه د شمال زون په څېر د پراخو قومي جوړښتونو لرونکې سیمه کې یې د وسلوالو طالبانو د ځپلو لپاره د سیاسي او جنګي زورواکو تر سیوري لاندې سیمه ایز پولیس رامنځ ته کړل. په ډېری سیمو کې اوس همدا سیمه ایز پولیس د حکومت پر ځای خپلو سیاسي او جنګي مشرانو ته ډېر وفادار دي او همدې وفادارۍ شمال د نړیوال تروریزم تر څنګ د کورني جنګي قومندان تر ګواښ لاندې هم راوستی دی.

لا هم ناوخته نه ده، چې حکومت د خپل سیاسي او ولسي نفوذ له لارې دغه کړۍ د افغان ځواکونو په رسمي چوکاټونو کې ځای پر ځای کړي. زورواکي تر خپلو سیمو پورې رالنډ وساتي او د نړیوال تروریزم سره د مقابلې لپاره د ټول ملت د سیاسي نږدېوالي لپاره کار وکړي.

په هېواد کې د داعش د منسوبینو او د طالب تر منځ شخړې او مخالفت څخه باید په سیاسي او جنګي مهارت کار واخیستلی شي؛ کنه د شمال په څېر سیمو کې به د وسلوال طالب او داعش تر څنګ

پخواني کورني قومندانان هم په نوي جګړيز اړخ بدل شي، چې قابو کول به يې بيا نوې او ستونزمنې لارې غواړي.

په نړيواله کچه د افرادګرو ملاتړي اوس بدل شوي دي. امريکا پرون د وسلوال طالب ښکاره مخالف لوری و؛ خو نن دوی د يو ډول معاف کېدو کچې ته راټيټ شوي او د داعش له لارې جګړې پر مخ بيايي. بل خوا روس او ايران که تر پرونه د وسلوال طالب مخالفين وو؛ نن يې ملاتړي دي. ايران که په سيمه کې د داعش پرمختګ د شيعه ايزم خلاف عمل بولي؛ نو روس بيا په شمال کې د داعش نفوذ د منځنۍ اسيا لپاره د خپلو اقتصادي ګټو له پلوه ستر ګواښ بولي؛ نو افغانستان بايد د رواني خطرناکې جګړې د رام کولو لپاره د امنيتي ځواکونو تر څنګ سياسي او ولسي ځواک هم پياوړی کړي.

# د کندوز دفاع څوک وکړي !؟:

## خیزش مردمي، که افغان سرتېري

خپره شوې: سرخط ورځپاڼه/ د تلې لسمه/ ۱۳۹۴المریز

اوس نو د طالبانو د دورې وړاندې وخت نه دی، چې د تنظیمي کړیو وسلوال دې د هېواد ساتنې په موخه په غیر منظمو لیکو کې وسلې ته لاس کړي. نن نظام لرو، په نظام کې ملي اردو، ملي پولیس او د ملي امنیت په چوکاټونو کې د افغان ځواکونو بېلا بېلې برخې لرو. ممکن دغه لوري ستونزې ولري؛ خو د همدې برخو په چوکاټ کې د نظام ساتنې او ملاتړ کولو چاره به د افغانستان ژغورنې یوا ځینۍ لاره وي.

پر کندوز له برید وروسته د وسلوالو طالبانو د ځپلو په موخه د افغان ځواکونو ټولې خواوې په پوره ځواک د دغې سیمې د ساتنې لپاره وسلواله مبارزه کوي. نو د نظام په شتون کې به د دې اړتیا نه وي، چې د خیزش مردمي په نامه د غیر مسوولو وسلوالو لیکې کندوز ته ولېږو. د کندوز تېرو دیارلس کلونو موده کې همداسې کړنو ثابته کړې، چې د وسلوالو طالبانو پر مټ پر کندوز برید ته غیر مسوولو وسلوالو او په دغه ولایت کې شته مافیایي کړیو زمینه برابره کړې وه.

میرعالم، چې په دغه ولایت کې د شمال زون په کچه د سلګونو غیر مسوولو وسلوالو لرونکی سړی دی. په کنم سیمه کې د همدې زورواکي د یو اربکي د وژل کېدو په تړس کې نږدې شل بېګناه ښځې

او سړي ووژل. د سیمې خلکو د یاد زورواکي د ماتولو لپاره د وخت حکومتي واکمنو ته لاسونه لپه کړل، له شلو بې ګناه وژل شویو څخه یې د دیارلسو جنازې د خښولو پر ځای د ولایت او امنیې قوماندانۍ تر دروازو راوړې؛ خو د هغه وخت د مرکزي حکومت د زورواکو واکمنانو د مداخلې په زور د کندوز سیمه ایز امنیتي چارواکي لاس ترلي پاتې شول.

د کنم سیمې خلکو د بدل په موخه وسلې ته لاس کړ. په جګړه کې ښکېل شول، د ساتنې یې څوک یې نه و، نو د وسلوالو طالبانو سیوري ته پټ شول.

په دغه ولایت کې د غیر مسوولو وسلوالو لخوا داسې ډېرې پېښې تر سره شوې، چې له امله یې د وسلوالو طالبانو لیکې پیاوړې شوې دي.

که د کندوز د دفاع په سنګرونو کې پخوانیو تنظیمي ډلو ته د افغان سرتېرو په ډلو کې ځای ورکړل شي، لرې نه ده، چې د کنم سیمې په څېر ډېرې ناوخوالې راوتوکېږي. د وسلوالو طالب ورکېدا به مو د وسلوال طالب د پالنې پر تغر کېنوي.

د یو خبریال په توګه مې پر کندوز د وسلوالو مخالفینو د برید پر مهال د افغان سرتېرو دغه اړخونه حس کړي، چې د ټولو ستونزو سربېره لا هم افغان سرتېري په پوره ایماندرۍ او هېوادنۍ مینه خپله دنده تر سره کوي. دوی د ((خدای، وطن، دنده)) سپېڅلي شعار سره د هېواد د درې رنګې (تور، سور، زرغون) جنډې تر سیوري لاندې د وطن د ساتنې په پار کفونونه له سره ترلي او وړاندې درومي.

پر کندوز د وسلوالو طالبانو له برید سره سم ځینو ډلو د خپلو غیر مسوول وسلوالو پر مټ د کندوز په جګړه کې د برخې اخیستو اوازې پورته کړې، چې د روان ناورین د له منځه وړلو تر څنګ د همدې ناورین د لا اوږدېدو شونتیا یې ډېره ده.

په تېرو دوه ورځو کې د هېواد په ځینو ولایتونو کې ځانګړو کړیو د وطن د ساتنې په پار غونډې وکړې، سرکونو ته ووتل او په ښکاره یې داسې وښوده، چې دوی د وطن د ساتنې په پار د کندوز په جګړه کې برخې اخیستو ته لېوال دي...چې داسې نه ده.

په کابل کې چې په همدې تړاو غونډه وشوه، په فیسبوک کې خپرو شویو تصویرونو یې غوني را زیږ کړ.

ښنګه کېدی شي، چې د وطن د ساتنې په پار دې غږ پورته کوم او د ملي بیرغ پر ځای دې د ځانګړې وخت جنډه، چې ځانګړې تنظیم پورې تړاو لري، پورته کړم.

دغه ډول کړنې په هېواد کې د اویایمې لسیزې د خودسریو له امله د تویو شویو وینو بوی ورکوي.

د کندوز پخوانی والي عمر ساپی که څه هم په رسمي چوکاټ کې د دغه ولایت د والي په توګه حکومت او خلکو ته مسوول دی؛ خو تېره ورځ یې له طلوع تلویزون سره په ځانګړې مرکه کې پر کندوز د برید له سترو پټو لاملونو پرده پورته کړه.

نوموړي زياته کړه، چې کندوز له تېرو دوه درې کلونو د نړيوالو استخباراتي کړيو له لوري د شمال د ناامنه کېدو په موخه د سقوط له ستر ګواښ سره مخ و. ده، په کندوز کې د کورنۍ مافيايي کړيو او غير مسوولو وسلوالو شتون د وسلوالو طالبانو پر مټ د نړيوالو استخبارتي کړيو د شومو اهدافو د پلي کولو لپاره ښه بستر وباله.

د کندوز د پخواني والي له څرګندونو څخه برداشت تر همدې ځايه دی، چې د نورو اړخونو تر څنګ غير مسوول وسلوال د طالبانو په لاس د کندوز د سقوط يو لامل دی.

عمر ساپي بايد د کندوز له ډېرو اړخونو پرده پورته کړې وای؛ خو يوازې دومره يې وويل، چې د ولسي جرګې د ريس عبدالروف ابرهيمي چوپان هم ټانګ لري.

که څه هم ولسمشر اشرف غني په وروستي خبري ناسته کې په ډاګه کړه، چې د افغان ځواکونو مشرتابه ته يې امر کړی، چې بايد پرته له نظامي مسوولينو، بل هېڅ وسلوال د کندوز په جګړه کې شريک نه وي.

وېره همدلته ده، چې د پخوانيو جهادي قومندانانو د ملاتړ په ټس کې هغه ټولې خبرې په اسانه د کندوز حالت لا پسې کړکېچن کولی شي، چې په ملاتړ يې سيمه ايزو استخباراتي کړيو د وسلوالو طالبانو پر مټ پر کندوز بريد وکړ او درې ورځې يې د دغه ښار د واټونو ولکه په لاس کې وه.

کندوز کې د وسلوالو طالبانو په پراختيا کې له ټولو ډېر د سيمه ايزو غير مسوول وسلوالو لاس و. دغه ټکي ته د کندوز پخواني والي عمر ساپي هم اشاره وکړه.

غير مسوولو وسلوالو په دغه ولايت کې د تېرو ديارلسو کلونو په اوږدو کې د شخصي ګټو په موخه د قومونو تر منځ واټن پيدا کړ، خلک يې وزورول او په لوی لاس يې د ځان د ساتنې په موخه وسلوال کېدو ته مجبور کړل.

مرکزي حکومت مسووليت لري، چې د هغو کړيو مخنيوی وکړي، چې د کندوز د ساتنې تر سيوري لاندې د کندوز د لا بربادۍ لامل کېدی شي.

کله، چې د نظام خبره کوو، نو بايد هر څه د نظام په چوکاټ کې تر سره کړو. د کندوز په جګړه کې د ملي ځواکونو د ملاتړ لپاره له ټولو ښه او اسانه لاره همدا ده، چې په همدې ځواکونو کې جذب شوو او د مسوول سرتېري په توګه د وطن ساتنې لپاره ګام پورته کړو.

# زموږ پولیس زموږ خدمتګار

خپره شوې: ګرداب ورځپانه/ ۱۳۹۳ المریز

روږه نیول، چې څومره ستونزمن کار دی، موږ ته هر کال د دېرشو فرضي روژو د نیولو پر مهال ښه څرګندېږي؛ خو دا چې یو څوک پرته له شخصي اړتیا له وطن سره د مینې د اثبات او په خپل هېواد کې د مثبت بدلون په موخه لس میاشتې په پرله پسې توګه روژه نیسي، داسې مثال به د اسلام په تاریخ کې هم ډېر کم وړاندې شوی وي.

مېړې به د خپل بریالیتوب خوب لیدلی و، چې بار بار یې د پورته تلو هڅه کوله. نه یې خپلې نرۍ ملا ته پام و، نه یې خپل وس ته کتل او نه ورسره دا وېره پیدا کېده، چې که ناکام شي، نو څه به کوي. د خپل بریالیتوب راز به یې په همدې کې لیدلی و، چې باید مبارزه روانه وساتي. زموږ په ټولنه کې داسې خلک ډېر کم وي، چې د یو کار د تر سره کېدو لپاره د شله توب تر حده مبارزه کوي، خو د ځینو خلکو د مبارزې شکل بېل ډول لري.

پژواک خبري اژانس ته مې د همداسې یوې سپېڅلې مبارزې په اړه راپور باندې کار وکړ. موضوع راته ځکه په زړه پورې وه، چې له وطن سره زموږ د ټولنې د هغه کس د لېونۍ مینې ستره بېلګه پکې وړاندې شوې وه، چې ډېر یې پر چارو بدګومانه دي. زه هم د خپلې ټولنې له هماغو کسانو څخه یو یم، چې پر خپل پولیس مې کله هم له زړه باور نه و کړی؛ خو د دغه راپور پر جوړولو مې که له یوې خوا پر خپل پولیس

باور ؤ پر شو؛ نو له بلې خوا هدف ته د رسېدو لپاره د مبارزې له نوې لارې سره هم بلد شوم.

د ۱۳۹۱المریز د لیندۍ په ۲۷مه، د پژواک خپور شوی راپور زمونږ د یو پولیس کیسه کوي، چې له تېرو لسو میاشتو په هېواد کې د اداري فساد د ورکېدو او د سولې راتلو په موخه یې خپل پروردګار ته پر روژه نیولو لاسونه اسمان ته لپه کړي، که ګوندي پرښتې پرې امین ووايي او پر وطن یې د سولې وریځې راشي، چې له امله یې د پرمختګ باران د هر افغان کلی اباد کړي.

دغه پولیس نظام الدین فروتن نومېږي، ۳۲ کاله عمر لري او د بغلان ولایت اوسېدونکی دی. نوموړی اوس په مزارشریف کې د شمال زون د عامه نظم د شپږم نمبر لوا په تخنیکي امریت کې دنده لري.

نظام الدین فروتن له پژواک خبري اژانس سره په ځانګړې مرکه کې ویلي: ((د دې په خاطر روژه نیسم، چې زمونږ مشران ما وګوري او وشرمېږي، سوله راولي او له اداري فساد څخه لاس واخلي.))

د هغه په وینا، هېواد یې له یوې خوا د جنګ او له بلې خوا د اداري فساد له امله هره ورځ د تباهۍ کندې ته په غورځېدو دی؛ نو ده تر خپلې وسې خدای ته مخ ور ګرځولی، چې له هېواد سره یې مرسته وکړي.

فروتن به په خبرو خبرو کې پر خپل ښي مټ لګېدلي د هېواد پر بیرغ لاس کېښود، له قسم خوړولو وروسته به یې وویل، چې که چېرې یې

مشران لکه څنګه چې خبرې کوي، همداسې عمل هم وکړي؛ نو ټولې ستونزې به هوارې شي.

ځينې کارونه داسې وي، چې تر سره کول يې زموږ شخصي کړنو پورې اړه لري. موږ، چې څومره ډېر زيار وباسو هومره خپل منزل ته نږدې کېږو، خو زموږ ځينې شخصي او ټولنيزې هيلې داسې دي، چې پوره کېدل يې يوازې زموږ تر هڅو رالنډ نه وي. بلکې په ټوليزه توګه کټلوي خوځښت ته اړتيا لري. زموږ پوليس چې د هېواد د کومو بنسټيزو ستونزو د حل په موخه د مبارزې له عقيدوي شکل څخه کار اخيستی، زموږ په ټولنه کې د همدې ستونزو د حل لپاره د کټلوي خوځښت د نشتوالي له ټولو ښه بېلګه ده؛ خو تر څنګ يې په هر حالت کې د وطن لپاره تر اخري سلګۍ د کار کولو ستر پيغام هم وړاندې کوي.

زموږ پوليس لا بس نه دي ويلي، دی وايي، چې تر هغې به په پرله پسې توګه د روژې نيولو روانه لړۍ لا پسې اوږدوي، چې په هېواد کې مو په حقيقي توګه سوله نه وي راغلې. (د دغه کتاب د چاپ تر مهاله يې د روژې د نيولو درې کاله پوره کېږي.)

دی د سولې له روان بهير څخه راضي نه دی. نوموړی وايي، چې که سولې ته رښتيا هم کار روان وي؛ نو ولې د افغان د وينې تويدنې روانه لړۍ نه بندېږي.

زمونږ مبارز پولیس هوډ کړی، چې تر هغې به په پرله پسې توګه د روژې نیولو لړۍ اوږدوي، تر کومې چې یې مشران له ده شرمېدلي نه وي او له اداري فساد څخه یې لاس نه وي اخیستی.

د دغه پولیس د هیلو پوره کېدل او نه پوره کېدل بېل بحث دی، خو مهمه دا ده، چې له څو لسیزو بدمرغیو وروسته افغانستان د داسې پولیس لرونکی هېواد دی، چې د خورا نیمګړتیاوو تر څنګ ښې خواوې هم لري؛ خو سپړل غواړي او ټولنې ته ښودل یې پکار دي. که چېرې مونږ د خپلو پولیسو د بدو خواوو د راسپړلو تر څنګ د هغوی مثبت لوري هم راڅرګند کړو؛ نو د ولس ملاتړ به تر لاسه کړای شي او له دې سره به د دوی په کار کې هم مثبت بدلون راشي، چې په ټوله کې به افغانستان ګټه وکړي. مونږ به ګټه وکړو. بیا به نو دې ته اړتیا نه وي، چې یو افغان د خپل وطن د سوکالۍ په موخه د تل لپاره په پرله پسې توګه د روژې نیولو تابیا وکړي.

# زما د سیمې زورور وکیلان

خپره شوې: ګرداب ورځپاڼه/ ۱۳۹۳المریز

کله چې له زرګونو کسانو څخه څو کسان د یو ولایت د استازو په توګه ټاکل کېږي، نو اټکل داسې وي، چې باید تر ډېره په تول پوره شخصیتونه وي، چې د خپلو خلکو ربښتینی استازیتوب وکړای شي؛ خو چې کله همدا کسان په ناولو لارو ګامونه پورته کړي؛ نو د هېواد برخلیک ته اندېښنې پیدا شي.

د هېواد په شمال کې بلخ؛ له هغو ولایتونو څخه دی، چې دولتي چارواکي یې تل د نورو ولایتونو مسوولینو ته په مستقیم او غیر مستیقمه توګه پېغورنه ورکوي، چې چارې یې د دوی په پرتله منظمې نه دي؛ خو د بلخ د چارواکو هغه متل لکه چې هېر دی: که یوه ګوته نورو ته نیسې؛ نو پاتې ګوتې دې ځان ته اوړي.

څو ورځې وړاندې د بلخ ولایت د نهرشاهي ولسوالۍ د محکمې قاضي د رسینو پر وړاندې پر سپین میدان له دې رازه پرده پورته کړه، چې د دغه ولایت یو شمېر وکیلان یې په قضایي چارو کې په غیر قانوني توګه لاسوهنه کوي، تر دې چې د دوی د غوښتنو د نه پر ځای کولو پر مهال ورته د مرګ ګواښونه هم کوي.

د ټاکنو ورځ د هر هېواد په تاریخ کې برخلیک ټاکونکې ورځ وي؛ خو زموږ هېواد-افغانستان له دغې معقولې څخه یو څه لرې دی. دلته نه

خلکو ته خپله رایه هغه ارزښت لري او نه مو هم په تېرو لسو کلونو کې داسې کومه تجربه تر لاسه کړې، چې د خپلو رایو له لارې دې رښتیني او معقول افغانان د واک تر ګدۍ ورسوو.

وکیل، یانې د خلکو استازی، چې د دولتي چارو د څارنې دنده لري؛ خو لا مو هم د ولایتي شوراګانو په انګړونو او د ولسي جرګې په ودانۍ کې داسې څېرې کمې دي، چې د یو رښتیني وکیل تعریف دې پرې سم وځېږي.

د بلخ وکیلان دولتي چارې څاري؛ خو په دې موخه نه، چې د ولس د ګټو غم ورسره دی، بلکې په دې څار کې دي، چې څرنګه دغه چارې د خپلو شخصي ګټو په ګرداب کې ډوبې کړي، چې د څېړلو لپاره یې هم څوک زړه ښه نه کړای شي.

د بلخ د نهرشاهي ولسوالۍ د محکمې قاضي حبیب الله په ډېرې زړه سواندۍ رسنیو ته وویل، چې له هغو وکیلانو سره د چلند تولې لارې ترې ورکې دي، چې د ده په چارو کې غیر قانوني لاسوهنه کوي.

هغه د کوم وکیل نوم په ډاګه نه کړ؛ هغه هیواد چې لا هم پکې پخواني زورواکي د واک پر ګدیو ناست دي او د افغانانو د رېړولو لپاره یې د قانون تر سیوري لاندې غیر قانوني چارو ته متې بډوهلي؛ نو د زورواکو نوم په ډاګه کول؛ خو سم د مېینانو د کیسو له ښامار سره جګړه کول دي.

خو نومونړي قاضي له هغو ټولو غیر قانوني لاسوهنو څخه پرته پورته کړه، چې د بلخ ولایت د ولایتي شوار او په ولسي جرګه کې د دغه ولایت یو شمېر استازي یې کوي.

د ولایتي شورا د یو وکیل د غیر قانوني لاسوهنې کیسه یې کوله: ((یو کس د غلا په تور نیول شوی، چې له تېرو څو ورځو یې دوسیه په جریان کې ده. دغه دوسیه له ځانه سره زیات شمېر اسناد لري، چې د کس د غلا اثبات وربانديې په پوره توګه کېدای شي؛ خو د ولایتي شورا یو محترم وکیل، بار بار په دې ټینګار کوي، چې باید دغه کس خوشي کړای شي، تر دې چې ګواښونه راته کوي.))

د وکیلانو دنده هم دا وي، چې دولتي چارې وڅارې، چې د عامو خلکو سره بې قانوني ونه شي؛ خو کاشکې چې د بلخ د ولایتي شورا د وکیل دغه لاسوهنه د ولس د ګټو په خاطر وایې، د دې لپاره وای، چې کوم بې ګناه د ګنهګار په نامه د عدالت د مېز مخې ته ونه درول شي؛ خو داسې نه ده، دغه وکیل په دې ښه پوهېږي، چې دغه کس په اصل کې هم یو غل دی؛ خو د خلاصون هڅه یې ځکه کوي، چې د ده موټر چلوونکی دی.

که د ولس ګټې هر څومره په زیان کې وي، هېڅ خبره نه ده؛ خو چې د یو وکیل شخصي ګټو ته زیان ونه رسي. دوی زموږ نه بلکې د خپلو شخصي ګټو وکیلان دي، چې د دولتي چارو د ترسره کولو پر مهال یې خوندي وساتلی شي.

قاضي حبیب الله همداراز په ولسي جرګه کې د بلخ ولایت له وکیلانو هم نالښت وکړ، چې یو شمېر یې د دوی په چارو کې غیر قانوني لاسوهنه کوي.

نوموړي په داسې حال کې چې په سترګو سترګو کې یې له ولس څخه د خپل ژوند د خوندي ساتلو هیله لرله، د ولسي جرګې د یو وکیل د هغه مرکوني ګواښ په اړه وویل، چې ده ته یې په ټیلفون کې کړی و. ((د ولسي جرګې وکیل راته زنګ ووهه، د یوې غیر قانوني چارې د تر سره کولو غوښتنه یې راڅخه وکړه؛ خو ما انکار وکړ، راته یې کړه، چې ما وپېژنه او دا کار وکړه؛ کنه نو والله که دې په کورنۍ کې یو جورګوړی هم ژوندی پرېږدم.))

دې قاضي به هم د ولایتي شورا او ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې برخه اخیستې وي او ممکن همدې وکیلانو څخه یې یوه ته رایه هم ورکړې وي، چې نن ورته د مرګ ګواښونه کوي؛ خو هغه حساب به څوک وکړي، چې د دې خوار ولس څومره چارې به دغه ډول وکیلانو له خپلو شخصي ګټو قرباني کړې وي.

یوازې بلخ نه، بلکې د هېواد په نورو ولایتونو کې به هم د داسې وکیلانو شمېر کم نه وي، چې د ولس پر رایو یې خدمت نه بلکې څښتونه وکړل؛ نو پکار ده، چې د راتلونکو ټاکنو لپاره د خپلو رایو د کارولو لپاره په ټوله مانا ویښ اوسوو. باید په ټاکنو کې برخه واخلوو او داسې کسانو ته رایه ورکړو، چې لږ تر لږه د سم کار هیله ترې لرلای شو.

په ننګرهار کې د ماشوم ادبیاتو د سیمینار په تړاو/۱۳۹۵المریز:

# په شمال کې د ماشوم ادبیات که ژبه

کله چې مور د ادبیاتو خبره کوو، نو د ژبې بحث مو باید پای ته رسولی وي؛ خو زما سیمه کې لا هم د ژبې بحث لومړیتوب لري، دلته په دولتي کچه د ډېری افغان ماشومانو لپاره پر ادبیاتو د پوهېدو او یا هم د ماشوم د ادبیاتو په اړه بحث کول، له اړتیا لرې خبرې دي.

زما ماشوم باید لومړی په خپله ژبه د پوهېدو اسانتیا ولري، چې د ادبیاتو په اړه فکر کولو ته چمتو شي او له دې لارې د ژوند پېژندلو په پېچومو د ختلو وس پیدا کړي.

((دادا زه مکتب ته نوره نه ځم، هلته هېڅوک مور غوندې خبرې نه کوي، هغوی بل رقم غږېږي، زه چې ورسره په پښتو خبرې کوم، راپورې خاندي))

دا مې د شپږ کلنې لورکۍ بلهیکا خبرې دي، چې پروسږکال یې راته په وړکتون کې د شاملېدو په دریمه ورځ کړې وې.

بلهیکا لورکۍ چې مې کله شپږ کلنه شوه، تصمیم مو ونیو، چې په وړوکتون کې یې شامله کړو. سره د دې چې ښه خبر وم نتیجه نه ورکوي؛ خو بیا هم په مزارشریف ښار کې داسې وړکتون پسې وګرځېدم، چې د دري ژبې تر څنګ پکې ماشومانو ته په پښتو ژبه هم زده کړې ورکړل شي، خو پیدا مې نه کړ.

زده کړې د ژوند لومړنۍ اړتیا ده، مجبور شوو، چې د دري ژبې وړکتون کې یې شامله کړو. دربیمه ورځ وه، چې په مورنۍ ژبه د زده کړو د اسانتیاو په نه برابرېدو یې مخې ته ملامت ولاړ وم؛ خو بې وسه وم.

له ۱۳۸۲لمریز څخه په بلخ ولایت کې ژوند کوم، له دې وړاندې جنګونو له خپلې سیمې لرې اوسېدو باندې مجبور کړي وو. دې لرېوالي ما او په هغو پښتنو کې چې شمال کې پاتې شوي، د ژبې له اړخه خورا توپیر رامنځ ته کړی دی، ځکه چې ما په مورنۍ ژبه زده کړې کړي دي او دوی لا هم دغه اسانتیا نه لري.

زه په خپله ژبه پښتو ویل، لوستل او لیکل کولی شم؛ خو په دری ژبه یوازې لوستل کولی شم؛ په ویلو که ګوذاره کوم او لیکل مې پرې د نشت برابر دي؛ خو زما د چم ګاونډ ډېری پښتانه ملګري، چې د زده کړو پیل او پای یې په شمال کې شوی؛ په دري ژبه د خبرو تر څنګ په لیک لوست کې هم ښه لاس لري؛ خو په پښتو یوازې خبرې کولی شي. دوی ته په پښتو ژبه لیکل او پرې کره خبرې کول پر غره ختل دي.

په شمال کې د ځوان کهول په خپله ژبه د نه پوهېدو دغه کیسه د ماشوم له ادبیاتو او ژبې سره ژور تړاو لري.

مونږ په هغو سیمو کې د ماشوم د ادبیاتو په شتون او نشتوالي بحث کولی شوو، چېرې چې ماشوم خپله ژبه ولري، زما په سیمه کې د ماشوم لومړۍ اړتیا ژبه ده او له هغې وروسته د هغې ژبې ادبیات.

زه، چې کله مابنام مهال له دفتري کاره کور ته ستون شم، نو واړه بچیان مې (بلهیکا او ګومل) همدې ته ګوري، چې کله مې ډوډۍ له ستوي ښکته شي، چې دوی راسره ((اکو بکو سرسیندکو)) شروع کړي. د همژبو ماشومانو په چاپیریال کې دا لوبه ماشومان په کوڅو کې له نورو ماشومانو زده کوي او بېرته یې په خپلو کې له یو بل سره کوي؛ خو زما بچیانو دا لوبه له ما زده کړې، له بده مرغه په کوڅه کې یې همژبي ماشومان د نشت برابر دي؛ نو مجبور دي، چې هره شپه د خپل دادا په تمه وي او زه هم مجبور یم، چې د کوڅې د ماشومانو په کرکټر کې ورسره مخ کې لاړ شم.

نو په داسې چاپیریال کې خو ښېخې ډېر دېته پام کول په کار دي، چې په ستراتیژیکه توګه د ماشوم د مورنۍ ژبې د خوندي ساتلو لپاره مسلسلې هڅې وشي.

زما د ماشوم ادبیات ځکه خوندي نه دي، چې ژبه یې خوندي نه ده. ژبه یې یوازې د مور ((ا للو للو)) پورې را لنډه ده او په همدې سندریزو تورو کې یې ټول ادبیات رانغښتي دي. که چېرې یې په مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتیا لرلی؛ نو د ادبیاتو له بوډۍ ټاله د اوښتو راوښتو هنر به ورته اسانه و او د ژوند د پېژندلو په کړو وړو خو ښکلو لارو به یې ګامونه اخیستل.

د شمال په نږدې ټولو ولایتونو کې ډېری افغان ماشومان په مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتیا نه لري؛ بلکې په دې هم نه دي پوه، چې په مورنۍ ژبه زده کړې څومره ارزښت لري او په دې برخه کې له ټولو ډېره

ګرمتیا پر دولت ده. دولت په دې پوه دی، چې هغه ماشوم، چې په مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتیا نه لري د هغه ماشوم په پرتله، چې لري یې، ۳۰ سلنه تنبل او لټ وي.

زه پښتون شمالیوال یم؛ نو یوازې د افغانستان د شمال د پښتنو ماشومانو د ژبې په ستونزه ډېر بحث کولی شم، کنه په دغه سیمه کې ازبک، ترکمن، او داسې نور افغان قومونه ډېر دي، چې په مورنۍ ژبه له زده کړو لرې پاتې شوي او همدې لړېوالي له ادبیاتو لرې کړې دي، چې د ژوند پېژندلو ډېرې هنرونه پکې پټ دي.

په شمال زون کې افغان فرهنګ ته د کار کولو له یوې ټولنیزې کړۍ سره د تړاو لرلو له تجربې دې پایلې ته رسېدلی یم، چې که چېرې په دغه سیمه کې ماشوم ته په مورنۍ ژبه د زده کړو د اسانتیا لارې ګودرې جوړې نه کړو؛ نو د ډېرو ماشومانو د ژوند لومړنۍ ارزښت به مو په سمه توګه نه وي تعریف کړی.

دلته ډېر داسې ښوونځي شته، چې زده کوونکي یې له ۹۰ سلنې ډېر په یوه ژبه خبرې کوي؛ خو درسي ژبه یې بله ده. له بده مرغه هېواد مو بدرنګو سیاستونو داسې ځپلی، چې په مورنۍ ژبه علمي بحث کول هم د چټل سیاست په تله تلل کېږي.